

# د قَومِ لُوط تباهياني

شَيخِ طَرِيقَت، اَمِيرِ اَهلِسُنّت، بانئِ دعوتِ اِسلامي، حَضرَت علّامه مولانا ابُو بِلال

## مُحَمّد اِلياس عَطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالية

پښتو ترجمه:
مجلِسِ تراجِم
(دعوتِ اسلامي)

www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د كتاب لوستلو دُعا

ديني كتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښ دا لاندي دُعا لولئ

اِنْ شَآءَاللّٰہ تعالٰی څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

اَللّٰھُمَّ افْتَحْ عَلَیْنَا حِکْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَیْنَا رَحْمَتَكَ یَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِکْرَام

ترجمه: اے الله جَلَّ جَلَالُہٗ په مونږه د عِلم او د حِکمت دروازې برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګئ والا!

(مستطرف ج١ ص٤٠ دار الفکر بيروت)

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

طالب غم مدینہ بقیع ومغفرت

د رسالې نوم: **دقومِ لُوط تباهياني**

اول ځل: ..............

تعداد: ..............

ناشِر: مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنَه عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه کراچئ.

مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالې د چاپ کولو اجازت نشته

## کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼې کمې وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلي وي نو مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.

www.dawateislami.net

# د قَومِ لُوط تباهیانيِ

د شیخ طریقت اَمیرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلیاس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د بیان دا رِساله "قوم لوط کی تباہ کاریاں" په اردو ژبه کښې لیکلي شوي ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالې په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي یا کمي، زیاتي اومومئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دې چه مجلس تراجِم ته خبر وکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پیشکش:

## مجلسِ تَراجِم دعوتِ اِسلامي


برائے رابطه:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المَدینہ کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213

**Email:** translation@dawateislami.net


www.dawateislami.net

# فهرست

د قَومِ لُوط تباهیانې ........................ 1
د درود شریف فضیلت ........................ 1
د اِبراهِیم خلیلُ الله وراره ........................ 1
دُنیا کښې د ټولو نه مخکښې شیطان بدفِعلي وکړه ........................ 2
سَیِّدُنا لُوط عَـلَـیْهِ السَّلَام پوهه کړل ........................ 2
په قومِ لُوط باندې لړزوونکې عذاب نازِل شو ........................ 3
کانړې ورېسې لا ړو! ........................ 6
خِنزیر اِغلام باز وي ........................ 6
د اللهتعالٰی په بارګاه کښې د ټولو نه ناخوښه ګناه ........................ 7
درې قِسمه اَمرَد پرست ........................ 8
په اور کښې سوزیدونکې مړي ........................ 8
اَمرَد هُم د جَهنَّم حقدار! ........................ 9
د قومِ لُوط اَدِیرې ته ........................ 10
د اِغلام باز په دُنیا کښې سزا ........................ 10
بد فِعلي جائزه ګنړل څنګه دي؟ ........................ 11
کاش چه! ''بَدفِعلي جائزه وي'' وئیل کُفر دې ........................ 12
د پیش اِمام ګرامت ........................ 12
د حافِظې د تباهئ یو سبب ........................ 14
د اَمرَد خوښوونکو دوو مُؤذِّنانو بربادي ........................ 15

www.dawateislami.net

د مخ غوښې ئې ودوړېدلې .......................................17
په شَهوَت جامو ته کتل هُم حرام دي ...............................18
د خوفناك مار ګُزار...................................................19
د شهوت پرستئ مختلف اندازونه ....................................20
د ښکلولو عذاب .......................................................21
په بد نظرئ کولو شکل ورانيدې شي..................................22
قبر کښې به مو چينجي د ټولو نه مخکښې سترګه خوري.............23
د نظر د حِفاظت کوونکي د پاره د جَهنَّم نه امان دې..................23
د اِبليس زهرژن تِير...................................................24
د اَمـرَد سره يواځې کيدل د ووه سرې خوړو ځناورو نه هُم زيات خطرناك ..24
اَمـرَد د ښځې نه هُم زيات خطرناك دې!................................25
د اَمـرَد سره ۱۷ شيطانان................................................26
اَمـرَد "اور" دې .........................................................26
د اَمـرَد سره ۷۰ شيطانان ...............................................28
اَمرَد خوريا ځان سره مه اُوباسه ........................................28
پرهيزګاره هُم نخښلي..................................................28
د اَمـرَد د فِتنې نه ځان ساتئ...........................................29
د شَهوت پيژندل .......................................................30
د شهوت نه د بچ کيدو ۱۲ مَدَنـي ګُلونه .............................30
په ګنړه کښې يو کس ته هُم ننوتل نه دي پکار ......................32
د اِمامِ اعظم د اَمـرَد په باره کښې طرزِ عمل .......................34
د اَمـرَد پيژندل........................................................35
اَمـرَد ته تُحفه ورکول خنګه دي .....................................36


www.dawateislami.net

”مُحتاط بنده خوشحال اوسي“ د ۱۹ حُروفو په نِسبت
د اَمـرَد د پاره ۱۹ مَدَنـي ګُلونه ........................................................ 37
(د دې وړاندې کړو احتیاطونو په وجه بې د شرعي مَصلحَته مور و پلار یا د کور نور کسان مه خفه کوئ)..................................................... 37
د اَمرَد نعت شريف لوستل..................................................... 41
د هینډ پریکټِس عذاب......................................................... 42
برباده ځواني....................................................................... 43
د حیاء پیغام....................................................................... 44
د هینډ پریکټس ۲۶ جِسماني آفتونه........................................ 46
هینډ پریکټِس کوونکې هر پینځم کس لیونې ........................... 47
”صـبر شه“ د پینځه حُروفو په نِسبَت د دې
ګناه نه د بچ کیدو ۵ روحاني علاجونه........................................ 48
د ”یَا کَرِیمُ“ د شپږو حُروفو په نِسبت د دې ګناه نه د بچ کیدو ٦ تدبیرونه 49
”نوم د محمد څومره خوږ دې“ د ۱۸ حُروفو په نِسبت د نوم ایښودو په باره کښې ۱۸ مَدَنـي ګُلونه............................................................................. 52
www.dawateislami.net

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

# د قومِ لُوط تباهياني[1]

شيطان كه هر څومره ناراستي درولي، تاسو دا بيان د آخرې پورې ولولئ اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د آخرت د يَرې نه په لړزان شئ.

## د درود شريف فضيلت

د الله تعالیٰ د خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دې: بيشكه د قيامت په ورځ به په خلقو كښې ما ته زيات نزدې هغه وي څوك چه په ما د ټولو نه زيات دُرُود شريف وليږي. (ترمِذی،ج۲، ص۲۷ حدیث۴۸٤)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د اِبراهِيم خليلُ الله وراره

حضرتِ سَيِّدُنا لُوط عَلَيْهِ السَّلَام د حضرتِ سَيِّدُنا اِبراهِيم عَلَيْهِ السَّلَام وراره وو، هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام د سَدُوم نبي وو. او هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام د حضرتِ سَيِّدُنا

---

[1] دا بيان اَمِيرِ اَهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د تبليغ قُرآن و سُنَّت د عالـمګير غيرسياسي تحريك دعوتِ اسلامي په عالـمي مَدَني مركز فيضانِ مدينه كښې (په ۲۹ ذيقعده ۱٤۳۲ھ/ ۲۷-۱۰-۲۰۱۱) فرمائيلي وو. د ترميم او اِضافي سره د لِيك په صورت كښې حاضر دي. مجلس مَكۡتَبَةُ الۡمَدِيۡنه

www.dawateislami.net

اِبراهِيم خليلُ الله عَلَيْهِ السَّلَام سره شام ته هِجرت کړې وو او د حضرتِ سَيِّدُنا اِبراهِيم خليلُ الله عَلَيْهِ السَّلَام ډير خِدمت ئې کړې وو. د حضرتِ سَيِّدُنا اِبراهِيم خليلُ الله عَلَيْهِ السَّلَام په دُعا هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام نبي جوړ کړې شو. (نُور العِرفان ص۲۵۵)

## دُنيا کښې د ټولو نه مخکښې شيطان بدفِعلي وکړه

دُنيا کښې د ټولو نه مخکښې بَدفِعلي شيطان [په انسان باندې د خپل ځان سره] وکړه، هغه د حضرتِ سَيِّدُنا لُوط عَلَيْهِ السَّلَام قوم ته د اَمرَدِ حَسِين يعني د ښائسته هلك په شکل کښې راغې او هغوئي ئې ځان ته مائل کړل تر دې چه په هغوئي د ځان سره ګنده کار کولو کښې کامياب شو او دې کار هغوئي ته دومره خوند ورکړو چه هغوئي د دې غلط کار عادت واخستو او خبره دې حد ته ورسيده چه ښځې ئې پريښودې او د سړو [سره د بدکارئ] په ذريعه ئې خپل خواهش پوره کول شروع کړل. (ماخوذ از مکاشفةُ القلوب ص۷٦)

## سَيِّدُنا لُوط عَلَيْهِ السَّلَام پوهه کړل

حضرتِ سَيِّدُنا لُوط عَلَيْهِ السَّلَام چه هغوئي ته د دې بد فِعل نه منع کولو د پاره څه فرمائيلي وو هغه په قُرآنِ مجيد کښې په دې الفاظو

www.dawateislami.net

بيان کړې شوي دي:

اَتَاۡتُوۡنَ الۡفَاحِشَةَ مَا سَبَقَكُمۡ بِهَا مِنۡ اَحَدٍ مِّنَ الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۸۰﴾

اِنَّكُمۡ لَتَاۡتُوۡنَ الرِّجَالَ شَهۡوَةً مِّنۡ دُوۡنِ النِّسَآءِ ؕ بَلۡ اَنۡتُمۡ قَوۡمٌ مُّسۡرِفُوۡنَ ﴿۸۱﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: آيا داسې بې حيائي کوئ چه ستاسو نه مخکښ په جهان کښ هيڅ چا نه ده کړې. تاسو نارينؤ ته په شَهوت ورځئ د ښځو په ځائ، بلکه تاسو د اندازې نه تير شوئ. (پ۸، الاعراف: آيت ۸۰، ۸۱)

د حضرتِ سَيِّدُنا لُوط عَلَيۡهِ السَّلَام د دُنيا او د آخرت په ښيګړه باندې مشتمل د خير نه ډك بيان ئې چه واوريدو نو بې حيا قوم د غاړه اينښودو په ځائ داسې بې باکه جواب ورکړو:

وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوۡمِهٖۤ اِلَّاۤ اَنۡ قَالُوۡۤا

اَخۡرِجُوۡهُمۡ مِّنۡ قَرۡيَتِكُمۡ ۚ اِنَّهُمۡ اُنَاسٌ يَّتَطَهَّرُوۡنَ ﴿۸۲﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: او د هغه د قوم جواب نور څه نه وو خو هُم دا وئيل چه دوئي د خپلې آبادئ نه اُوباسئ دوئي خو پاکوالې غوارې. (پ۸، الاعراف: آيت ۸۲)

## په قومِ لُوط باندې لړزوونکې عذاب نازِل شو

چه کله د قومِ لُوط سرکشي او د بد فِعلئ خَصلت د هِدايت قابل پاتې نه شو نو د الله تعالیٰ عذاب راغې، چنانچه حضرتِ سَيِّدُنا جِبريل

www.dawateislami.net

عَلَيْهِ السَّلَام د یو څو فرښتو سره د ښائسته اَمرَدانو یعني د ښکلو بې ږِیرې هلکانو په شکل کښې میلمانه جوړ شوي حضرتِ سَیِّدُنا لُوط عَلَيْهِ السَّلَام کره راغلل. حضرتِ سَیِّدُنا لُوط عَلَيْهِ السَّلَام چه د هغه میلمنو ډَوَل او ښائست ته وکتل نو د قوم د بدکارئ د خصلت په وجه ډېر زیات فِکر مند شو. لږ ساعت پس د قوم بد فِعله خلق د حضرتِ سَیِّدُنا لُوط عَلَيْهِ السَّلَام د کور نه راتاو شو او د هغه میلمنو سره د بدفِعلئ په بده اِراده ئې [کور ته د اووښتو د پاره] په دیوال ختل شروع کړل. حضرتِ سَیِّدُنا لُوط عَلَيْهِ السَّلَام ډېر په سوي زړه هغوئې پوهه کړل خو هغوئې د خپلې بدې اِرادې نه قلار نه شو. حضرتِ سَیِّدُنا جِبریل عَلَيْهِ السَّلَام چه حضرتِ سَیِّدُنا لُوط عَلَيْهِ السَّلَام فِکر مند او خفه ولیدو نو وئې وئیل: **یا نبـيَّ الله!** تاسو غم مه کوئ، مونږه فرښتې یو او په دې بدکارو باندې د **الله** تعالٰی د عذاب راوړلو د پاره نازلې شوي یو، تاسو مُؤمِنِین او خپل اَهل و عِیال [یعني د کور کسان] ځان سره کړئ او د سحر کیدو نه مخکښې مخکښې د دې آبادئ نه لرې اُوځئ او خبردار! یو کس دِ هُم شاته آبادئ ته د کتلو د پاره مخ نه را اړوي ګنې هغه به هُم په دې عذاب کښې ګرفتار شي. چنانچه حضرتِ سَیِّدُنا لُوط عَلَيْهِ السَّلَام د خپل

www.dawateislami.net

کور کسان او مُؤمِنان ځان سره کړل او د آبادئ نه بهر ئې تشریف یوړلو. بیا حضرتِ سَیِّدُنا جِبرِیل عَلَیْہِ السَّلَام د هغه ښار پینځه واړه استوګنې [یعني آبادئ] په خپلو وزرو د پاسه راواخستې او د آسمان طرف ته اوچت شو او چه څه پورته لاړو نو هغه استوګنې ئې زمکې طرف ته نسکورې کړې. بیا په هغوئې باندې د کاڼړو دومره تیز باران وشو چه د قومِ لُوط مړې هُم تخې تخې شو! بالکل هُغه وخت چه کله دا ښار په بل مخ اووښتو د حضرتِ سَیِّدُنا **لُوط** عَلَیْہِ السَّلَام یوه ښځه چه د هغې نوم "**واعِلہ**" وو هغه په حقیقت کښې مُنافِقه وه او د قوم د بدکارو سره ئې مِینه لرله، هغې مخ راواړوو او شا ته ئې وکتل او د خُلې نه ئې دا اُووتل چه "**هائے زما قومه!**" دا ئې اُووئیل او ودریدله، بیا د عذابِ اِلٰهی یو کاڼړې په هغې د پاسه هُم را پریوتو او هغه هُم هلاکه شوه. **الله** تعالیٰ اِرشاد فرمائي:

فَاَنْجَیْنٰهُ وَ اَهْلَهٗۤ اِلَّا امْرَاَتَهٗ ۖ٘ كَانَتْ مِنَ الْغٰبِرِیْنَ ﴿۸۳﴾

وَ اَمْطَرْنَا عَلَیْهِمْ مَّطَرًا ؕ فَانْظُرْ كَیْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِیْنَ ﴿۸۴﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: نو مونږه هغه ته او د هغه د کور کسانو ته نجات ورکړو، مګر د هغه ښځه، هغه د پاتې کیدونکو ځینې شوه. او مونږه په هغوئې یو

www.dawateislami.net

باران اُو وراوو، نو اوګوره څه رنګه انجام شو د مُجرِمانو. (پ۸،الاعراف:آیت۸۳، ۸٤)

په بدکاره قوم باندې وريدونکي هر کاڼړي باندې د هغه کس نوم ليکلي شوي وو کوم چه د هغه کاڼړي په لګيدو هلاك شو. (ماخوذ از عجائب القُرآن ص۱۱۰تا ۱۱۲،تفسیرِ صاوی ج۲ ص۶۹۱)

## کاڼړي ورپسې لاړو!

د حضرتِ سَیِّدُنا لُوط عَلَيْهِ السَّلَام د قوم يو تاجِر هغه وخت د کاروبار په سلسله کښې مَکّې مُکَرَّمې ته راغلي وو، د هغه د نوم کاڼړي هلته راورسيدو خو فرښتو حصار کړو او وئې وئيل چه دا د الله تعالیٰ حَـرَم دې. چنانچه هغه کاڼړي د څلويښتو ورځو پورې د حَـرَم نه بهر د زمکې او د آسمان د مينځه مُعَلَّق (يعني په هوا کښې ولاړ) وو چه څنګه هغه تاجِر فارِغ شو او د مَکّې مُکَرَّمې د حَـرَم نه بهر اُووتو هغه کاڼړي په هغه را پريوتو او په هُم هغه ځائ هلاك شو.

(مُکَاشَفَةُ الْقُلُوب ص۷۶ ماخوذاً)

## خِنزير اغلام باز وي

مُفَسّرِ شَهِير حَکِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُاللهِتَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: فاحِشه (يعني بې حيائي) هغه ګناه ده چه عقل ئې هُم بده

ګنړي. کُفر اګرچه بدترينه ګناهِ کبيره ده خو دې ته رب (تعالیٰ)
فاحِشه (يعني بې حيائي) نه ده وئيلې ځکه چه نفسِ انساني د دې نه
کرکه نه کوي. بيشميره عقلمند ګنړلو والا خلق هُم پکښې ګرفتار
دي خو اِغلام (يعني بد فِعلي) [يعني د نارينه د بل نارينه سره بدکاري] خو
داسې بد څيز دې چه ځناور هُم د دې نه نفرت کوي سِوا د خِنزير
نه. د هلکانو سره اِغلام حرامِ قطعي دې د دې د حرام کيدو مُنکِر
(يعني انکار کوونکې) **کافِر** دې. لُوطي (يعني اِغلام باز) سړې، د
"ښځې" قابل نه وي. (نور العرفان ص۲۵۵)

## د الله تعالیٰ په بارګاه کښې د ټولو نه ناخوښه ګناه

حضرتِ سَيِّدُنا سُليمان عَلَيْهِ السَّلَام يو ځل د شيطان نه تپوس وکړو
چه **الله** تعالیٰ ته د ټولو نه زياته کومه ګناه ناخوښه ده؟ اِبلِيس اُووئيل:
**الله** تعالیٰ ته دا ګُناه د ټولو نه زياته ناخوښه ده چه سړې د سړي سره
بدفِعلي وکړي او زنانه، د زنانه په ذريعه خپل خواهش پوره کړي.
(روح البيان ج۳ ص۱۹۷) **خاتَمُ المُرسَلِين، رحمةٌلِّلعٰلَمِين** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي:
چه کله نارينه د نارينه سره بدکاري وکړي نو هغه دواړه زِناکار دي

www.dawateislami.net

او چه کله ښځه د ښځې سره حرام کارې وکړي نو هغه دواړه زِناکارې دې. (السُّننُ الکبریٰ ج۸ ص۴۰۶ حديث۱۷۰۳۳)

## درې قِسمه اَمرَد پرست

د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو سعيد خُدري رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دې چه په آخره زمانه کښې به څه خلقو ته "لُوطِيَّه" وئيلې شي او دا به درې قِسمه وي ﴿۱﴾ هغه چه کوم به (په شهوت) صِرف د اَمرَدانو صورتونو ته ګوري او د هغوئي سره به (د شهوت باوجود) خبرې اترې کوي ﴿۲﴾ کوم به چه (په شهوت) د هغوئي سره لاس ملاووي او غاړې به هُم ورکوي ﴿۳﴾ کوم به چه د هغوئي سره بدفِعلي کوي. په دې ټولو باندې د الله تعالیٰ لعنت دې خو هغه کوم چه توبه وکړي. (نو الله تعالیٰ به د هغوئي توبه قبوله کړي او هغوئي به د لعنت نه بچ اوسي)

(اَلْفِرْدَوْسُ بِمَأْثُوْرِ الْخِطَابِ ج۲ ص۳۱۵ حديث۳۴۲۵)

## په اور کښې سوزيدونکي مړي

حضرتِ سَيِّدُنا عِيسٰی رُوحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام يو ځل په يو ځنګل کښې وليدل چه په يو "سړي" باندې اور بل دې. هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام اوبه راواخستې او اور مړ کول ئې اُوغوښتل نو اور د اَمرَد صورت اختيار

www.dawateislami.net

کړو. حضرتِ سَیِّدُنا عِیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام د **الله** تعالیٰ په بارګاه کښې عرض وکړو: یا **الله** عَزَّوَجَلَّ! دا دواړه په خپل اصلي حالت راولې، چه زه د دوئي نه د دوئي د ګناه تپوس وکړم. چنانچه سړي او اَمرَد [یعني بې ږِیرې ښکلي هلك] د اور نه بهر راغلل. سړي اُووئیل: یَا رُوحَ الله عَلَیْہِ السَّلَام! ما د دې اَمرَد سره دوستي کړې وه، افسوس! د شهوت د غلبې په وجه ما د جُمُعې په شپه د ده سره بدفِعلي وکړه، په دویمه ورځ مې هُم ورسره مخ تور کړو. یو ناصِح (یعني نصیحت کوونکي) د **الله** تعالیٰ نه یَرولم خو ما نه منله. بیا مونږ دواړه مړه شو. اوس وار په وار اور جوړیږو او یو بل سوَزَوو او زمونږه دا عذاب د قیامته پورې دې. اَلْعِیَاذُ بِاللّٰهِ تعالیٰ. (یعني د الله تعالیٰ پناه) (نُزهَةُ المجالِس ج۲، ص۵۲)

## اَمرَد هُم د جَهنّم حقدار!

د اَمردانو سره دوستانې کوونکي دِ د شیطان د وار نه خبردار شي! بیشکه په شروع کښې نِیَّت صفا سهې، خو شیطان په دوکه کولو کښې ډیر وخت نه اخلي، د اَمرَد سره دوستئ کوونکي که نور څه نه کوي هُم خو د هغه د بدنظرئ او په شهوت سره د بدن سره د بدن لګیدو د ګُناه نه بچ کیدل ډیر زیات مشکل وي. دا هُم یاد

ساتئ! که اَمرَد په رضا يا په پيسو يا د نوکرئ وغيره په لالچ کښې خپل ځان بدفعلئ ته وړاندې کړي نو هغه هُم ګنهګار او د جَهنَّم حقدار دې.

## د قومِ لُوط اَدِيرې ته

د حضرتِ سَيِّدُنا وَکيع رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دې: "څوك چه د قومِ لُوط په شان عمل کوي او بغير د توبې نه مړ شي، نو د خخولو نه پس به هغه د قومِ لُوط قبرستان [يعني اَدِيرې] ته مُنتقل کړې شي او د هغه حشر به د قومِ لُوط سره کيږي." (يعني د قيامت په ورځ به د قومِ لُوط سره پاځي) (ابنِ عساکر ج٤٥ ص٤٠٦)

## د اِغلام باز په دُنيا کښې سزا

په حَنَفي مذهب کښې د اِغلام باز (يعني د بدفِعلئ کوونکي) سزا دا ده چه په هغه د پاسه ديوال را اُوغورزوئ يا ئې د اوچت ځائ نه نسکور غوزار کړئ او کانړي پرې اُووروئ يا ئې قيد کښې واچوئ تر دې چه مړ شي يا توبه وکړي. يا ئې که يو څو ځله دا بد فِعل کړې وي نو بادشاهِ اِسلام دِ ئې قتل کړي. (دُرِّ مُختار و رَدُّالْمُحْتَار ج٦، ص٤٣، ٤٤)

عوام ته د دې اجازت نشته چه دا بيان کړې سزاګانې ورکړې، صرف حاکِمِ اِسلام [يعني بادشاهِ اسلام] به دا سزاګانې ورکوي.

## بد فِعلي جائزه ګنړل څنګه دي؟

د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اِدارې **مَكْتَبَةُ الْمَدِينه** چاپ شوي د ۶۹۲ صفحو کتاب "**کُفريه کَلِمات کے بارے ميں سوال جواب**" صفحه ۳۹۷ نه ۳۹۸ نه دوه سوال او جواب اوګورئ: **سُوال**: څوك چه بدفِعلي [يعني د نارينه د نارينه سره بدکاري] جائزه ګنړي يا ورته جائزه وائي، آيا هغه به مسلمان پاتې شي؟

**جواب**: نه، هغه به کافِر شي. **فُقَهائے کرام** رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی فرمائي: چا چه د حَرامِ اِجماعي د حُرمت اِنکار وکړو يا ئې د هغې په حرام کيدو کښې شك وکړو هغه کافِر دې لکه شراب (خمر)، زنا، **لِواطَت**، سود وغيرها. (مِنَحُ الرَّوض ص ۵۰۳)

زما سردار اعلٰی حضرت، اِمامِ اهلِسُنّت، مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د لِواطَت حلال ګنړلو والا په باره کښې اِرشاد فرمائي: د حِلِّ لِواطَت قائل [يعني لِواطَت حلال ګنړلو والا] کافِر دې. (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه، ج ۲۳، ص ۶۹۴)

## کاش چه! ”بَدفِعلي جائزه وې“ وئيل کُفر دې

**سُوال:** د هغه کس د پاره څه حُکم دې چه هغه ورته جائزه نه وائي خو دا خواهش کوي چه کاش! بدفِعلي جائزه وې.

**جواب:** دا خواهش کول هُم کُفر دې. اَلبَحرُ الرَّائق جلد ۵ صفحه ۲۰۸ کښې دي: کوم حرام کارونه چه کله هُم نه دي حلال شوي د هغې په باره کښې د حلال کيدو خواهش کول کُفر دې مَثَلًا دا خواهش کول چه کاش! ظُلم، زِنا او قتلِ ناحق حلال وې.

## د پيش اِمام کَرامت

اے د الله په رحمت په جَنَّتُ الفِردَوس کښې د مَکِّـي مَدَنـي آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ګاونډ طلبګارو! د بدفِعلئ نه د بچ کيدو د پاره د نظر حفاظت هُم ضروري دې ځکه چه دا د دې خوفناکي ګناه ورومبئ پوړئ ده، د بدنظرئ د تباهئ يو څرك اُوګورئ، چنانچه **حافِظ** ابُو **عَمرو** به په مدرسه کښې [طَلَبه ته] قُرآن لوستلو، يو ځل يو ښکلي هلك د سبق وئيلو د پاره راغې، هغه ته ئې چه څنګه په غلط نظر وکتل نو ټول قُرآن شريف ترې هير کړې شو، ډيرې توبې ئې وِيستلې او په ژړا ژړا د مشهور بُزرګ حضرتِ سَيِّدُنا **حسن بصري**

www.dawateislami.net

رَحۡمَةُاللّٰہِتَعَالٰیعَلَیۡہ په دربار کښې حاضر شو او ټوله قِصَّه ئې بيان کړه او د دُعا درخواست ئې وکړو. هغوئي رَحۡمَةُاللّٰہِتَعَالٰیعَلَیۡہ ورته اُوفرمائيل: هُم دا کال د حج سعادت حاصل کړه او د مِنیٰ شريف **مسجِدُ الـخَيف** شريف ته لاړ شه او د هغه ځائ د اِمام نه دُعا واخله. چنانچه (سابقه) حافظ صاحب حج وکړو او **مسجِدُ الـخَيف** شريف ته د ماسپښين نه مخکښې حاضر شو، يو نُوراني مخ والا سپين ګيرې پيش اِمام صاحب د خلقو په ګڼړه کښې په محراب کښې دننه تشريف فرما وو. لږ ساعت پس يو صاحِب تشريف راوړو، اِمام صاحب او ټول خلق د هغوئي د استقبال د پاره پاڅيدل، هغه نوې راغلې کس هُم په هغه حلقه کښې کښيناستلو. اذان وشو او د ماسپښين د لـمانځه نه پس خلق خواره شو. پيش اِمام صاحب ئې چه يواځې وليدو نو (سابقه) حافظ صاحب ورمخکښې شو او د سلام او دست بوسئ [يعني لاس ښکلولو] نه پس ئې په ژړا ژړا خپل عرض بيان کړو او د دُعا درخواست ئې وکړو، **پيش اِمام صاحب چه څنګه دُعا وکړه په هغه ساعت ئې ټول قُرآن بيا حِفظ شو**، امام صاحب ترې تپوس وکړو چه: تا ته زما درك چا درکړې وو؟ عرض ئې وکړو چه: حضرتِ سَيِّدُنا **حَسَن بصري** رَحۡمَةُاللّٰہِتَعَالٰیعَلَیۡہ. هغوئي اُوفرمائيل: ښه! هغوئي زما پرده ښکاره کړې ده، اوس زه هُم د هغوئي راز ښکاره کووم، واوره! د ماسپښين نه

مخکښې چه د کوم صاحب په راتلو باندې تول پاخیدلي وو او د هغوئي تعظیم ئې کړې وو هغه حضرتِ سَیِّدُنا حسن بصري رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه وو! هغوئي په خپل کَرامَت د بصرې شریف نه دلته د مِنیٰ شریف **مسجِدُ الـخَیف** شریف ته تشریف راوړې او هره ورځ د مازدیګر لـمونځ دلته ادا کوي. (ماخوذ اَزتذکرۃُ الاولیاء ج۱، ص٤٠) **د الله تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.**

اٰمِیْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

آخری عمر ہے کیا رونقِ دنیا دیکھوں
اب تو بس ایک ہی دھن ہے کہ مدینہ دیکھوں

آخـري عُمر دې اوس څه په دې دُنیا کـوومه
اوس خو دا یو مې دې ارمان چه مدینه وِینمه

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د حافِظې د تباهئ یو سبب

اے د مدینې د لیدلو ارمان ژنو عاشقانِ رَسُول! تاسو ولیده! اَمرَد ته په غلط نظر کتلو سره حافِظه هُم بربادیدې شي. نن صبا د یاد داشت د کمئ شِکایت عام دې، د حُفَّاظو [یعني د حافِظانو] یو شمیر

هُم د حافِظې د كمزورئ په آفت كښې اخته دې او د ډيرو نه خو قُرآنِ پاك هير كړې شي (قُرآن شريف يا فلانكې آيت ترې "هير" شو، د دې په ځائ داسې وئيل مناسب دي چه "ترې هير كړې شو") بدنظري او په تې وي وغيره باندې فِلمونه او ډرامې كتل گناه او حرام او جَهنَّم ته بوتلو والا كار دې او د دې په وجه حافِظه هُم كمزوري كيږي. د حافِظې كمزوري كيدو نور هُم ډير اسباب شته دې لِهٰذا خبردار! د كوم يو حافِظ صاحب د منزِل د كمزوري كيدو په صورت كښې صرف په خپل خيال دا سوچ جوړول چه د بدنظرئ په سبب داسې شوي دي، بدگُماني ده او د مسلمان په باره كښې بدگُماني كول حرام او جَهنَّم ته بوتلونكې كار دې.

## د اَمرَد خوښوونكو دوو مُؤَذِّنانو بربادي

اے د ايمان د حِفاظت د پاره فِكر مندو د مدينې عاشقانو! د بدفِعلئ د نوبت راتلو نه بغير د بدنظرئ په وجه او د اَمرَد [يعني د بې گيرې هلك] سره د زړه لگولو او دوستي كولو په وجه هُم د ايمان د بربادېدو انديښنه ده. يو زړه درزَوونكې **حِكايت** ولولئ او د **الله** د يَرې نه په لړزان شئ: **حضرتِ** سَيِّدُنا عبدُالله بِن اَحمد مُؤَذِّن رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه فرمائي: زه د خانه كعبې په طواف كښې مشغُول ووم چه يو كس

مې وليدو، هغه د خانه كعبې د غِلاف نه غيږه تاو كړي وه او صرف د يوې دُعا تِكرار ئې كولو چه: "يا **الله** عَزَّوَجَلَّ! ما د دُنيا نه مسلمان رخصت كړې." ما د هغه نه تپوس وكړو چه: د دې نه علاوه نورې دُعاګانې ولې نه كوې؟ هغه اووئيل چه: زما **دوه ورونړه** وو، مشر ورور به مې د **څلويښتو كالو** پورې په جُمات كښې بې تنخواه اذان كولو. چه كله د هغه د مرګ وخت راغې نو قُرآنِ پاك ئې اوغوښتو، مونږه هغه ته وركړو چه د دې نه بَرَكتونه واخلي، خو **قُرآنِ شريف** ئې چه په لاس كښې واخستو نو وئې وئيل چه: تاسو ټول ګواه شئ چه زه د قُرآن د ټولو اعتقاداتو [يعني عقيدو] او احكاماتو نه بيزاره يم او **نَصراني** (يعني عِيسائي) مذهب اختياروم." بيا هغه مړ شو. د هغه نه پس مې **بل ورور** د **ديرشو كالو** پورې په جُمات كښې فِيْ سَبِيْلِ الله اذان كولو. خو هغه هُم په آخري وخت كښې د نَصراني كيدو اقرار وكړو او مړ شو، لِهٰذا زه د خپلې خاتمې په باره كښې بيحده فكرمند يم او هر وخت د **خاتِمهٔ بِا لـخَير** دُعا كووم. **حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن اَحمد مُؤَذِّن** رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د هغه نه تپوس وكړو چه ستا **دوارو ورنړو** به آخر كومه ګُناه كوله؟ هغه اووئيل: "**هغوئي به د غيرو ښځو** شوق لرلو او اَمردانو (يعني بې ږِيرې هلكانو) **ته به ئې** (په شهوت سره) كتل." (اَلرَّوضُ الفَائِق ص١٧)

عطار ہے ایماں کی حفاظت کا سوالی

خالی نہیں جائے گا یہ دربارِ نبی سے (وَسائلِ بخشِش ص ۲۰۳)

عطّار ډېر د ايمان د حفاظت دي سوالي

خالي ځولۍ به نه ځي د دربارِ نبي نه

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د مخ غوښې ئې ودوړېدلې

يو بزرګ رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه چا د وفات كيدو نه پس په خوب كښې وليدو نو تپوس ئې ترې وكړو چه: مَافَعَلَ اللّٰهُ بِكَ؟ يعني **اللّٰه** تعالیٰ تاسو سره څه مُعامَله وكړه؟ هغه اُووئيل چه: زه د **اللّٰه** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی په بارګاه كښې پيش كړې شوم او زما ګناهونه ئې راشميرل شروع كړل، ما ئې مسلسل اقرار كولو او ګناهونه مې معاف كيدل، خو د يوې ګناه په وجه زه د شرم په وجه خاموشه پاتې شوم او ناڅاپه مې د مخ خرمن او غوښې توئ شوې. خوب ليدونكي ترې تپوس وكړو چه: آخر هغه كومه ګناه وه؟ هغوئې اُوفرمائيل چه: افسوس! يو ځل ما په يو اَمرَد (يعني بې ږيرې هلك) باندې د شَهوَت نه ډك نظر اچولې وو. (كيمياۓ سعادت ج۲ ص۱۰۰٦)

www.dawateislami.net

## په شَهوَت جامو ته کتل هُم حرام دي

اے خوفِ خُدا او عِشقِ مُصطَفیٰ لرونکو اسلامي وروڼرو! ولړزيږئ! چه **اَمـرَد** ته د کتلو دومره خوفانك انجام دې! نو معلومه نه ده چه د بدفِعلئ عذاب به څومره سخت وي. د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اداري مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنه چاپ شوي د ۱۱۹۷ صفحو کتاب، "بهارِ شرِيعت (جِلد ۳) صفحه ٤٤٢ کښ دي: هلك چه كله مُراهِق (يعني بالِغ كيدو ته نزدې) شي او ښكلې نه وي نو هغه ته د كتلو باره كښ هُم هغه حُكم دي كوم چه د سړي دې او كه ښكلې وي نو [د كتلو په باره كښ] چه د ښځې څه حُكم دي هغه د ده د پاره هُم دې يعني په شهوت سره هغه ته كتل حرام دي او كه شهوت نه وي نو هغه ته كتلې هُم شي او د هغه سره تنهائي [يعني ځان له ځائ كښ ناسته ولاړه] هُم جائز ده. د شهوت مطلب دا دې چه دا يقين ئې وي چه هغه ته په كتلو به شهوت نه پيدا كيږي او كه د دې خبرې شك هُم وي نو بالكل دِ نه ګوري، د ښكلولو خواهش پيدا كيدل هُم د شهوت په حد كښ داخِل دي. (رَدُّالْمُحْتَار ج۹ ص۶۰۲) ياد ساتئ! د **اَمـرَد** صرف مخ ته په شهوت كتل ګناه نه ده، كه د نظر ښكته ساتلو باوجود د **اَمـرَد** په

www.dawateislami.net

سینه یا لاسو ښپو وغیره بلکه که صرف په لِباس ئې نظر پریوځي او "ګنده خوند" کوي نو دې اندامونو یا لباس وغیره ته کتل هُم حرام او جَهنَّم ته بوتلونکې کار دې. که د کوم یو هلك طرف ته بیا بیا کتلو ته زړه کیږي او د ګنده خوند راتلو په وجه د هغه ځائ نه د لرې کیدو زړه نه کیږي، که داسې وي نو د هغه ځائ نه فوراً لرې کیږئ. مَعَاذَاللهعَزَّوَجَلَّ که د شهوت باوجود هغه ته ګوري او د هغه ځائ نه نه لرې کیږي نو ګنهګار او د جَهنَّم حقدار دې.

## د خوفناک مار ګُزار

یو بزرګ رَحْمَةُاللهِتَعَالٰى عَلَيْه د وفات کیدو نه پس چا په خوب کښې ولیدو چه نیم مخ ئې تور دې. چه د وجهې تپوس ترې وکړې شو نو وئې وئیل چه جَنَّت ته د تللو په وخت کښې ښکه په جَهنَّم تیریدم نو یو خوفناك مار راپیدا شو او په مخ ئې یو زوردار ګُزار راکړو او وئې وئیل چه: تا په فلانکۍ ورځ یو اَمرَد ته په شهوت کتلې وو دا د هغه بدنظرۍ سزا ده که تا زیات کتلې وې نو ما به زیاته سزا درکړې وه. (تذکرةُالْاَوْلِیاء حصّه اوّل،ص٦٤)

# د شهوت پرستۍ مختلف اندازونه

اے په ورځ د قیامت د مکِّی مَدَنـی آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مُسکـي مُسکـي او ښکلـي ښکلي مخ مبارك لیدلو ارمان لرونکو عاشقانِ رَسُول! سوچ خو وکړئ! چه د شهوت په نظر د کتلو انجام دومره خوفناك دې نو بیا په شهوت سره د هغه د مُسکي کیدو نه خوند اخستل، بلکه پخپله هغه ته د "ګنده خوند" سره ځکه مُسکي کیدل چه هغه هُم مُسکي شي نو دا به څومره تباه کوونکې کار وي! او په شهوت سره دا کارونه هُم د اَمـرَد سره کول حرام دي: د هغه سره دوستي جوړول او توقې ټقالې کول، هغه چیړل، هغه له غُصّه وروستل او د هغه د بې قرارۍ نه ګنده خوند اخستل، هغه ځان سره په سکوټر مخکښې یا په ځان پسې شا ته کښینول، د هغه نه غیرہ چاپیره کول، هغه سره لاس مِلاوول، غاړه ورکول، په هغه پورې ډډې مرل، په هغه باندې خپل سر یا ښپې یا ملا وغیره زور کول، په بیمارۍ وغیره کښې د هغه د لاس په زور کښیناستل پاڅیدل او ګرځیدل، هغه د خپل خدمت د پاره ساتل، هغه ځان سره نوکر ساتل، په توقه کښې هغه زور کول او راپرزول، په ګرځیدو کښې د

هغه لاس نيول يا د هغه په وکه لاس ايښودل، په اِجتِماع وغيره کښې هغه ته نزدې کښيناستل، په ناسته کښې د هغه په ورون خپل زنګون ايښودل يا په خپل ورانه د هغه زنګون لګيدلې پرېښودل، مَعَاذَاللّٰه په جُمات کښې د جَمعې په لـمانځه کښې د هغه سره خپله وګه لګول وغيره وغيره. **مسئله:** د جَمعې په لـمانځه کښې داسې ودريدل واجب دي چه وګه د بل کس د وګې سره سُوليږي يعني چه د يو وګه د بل کس د وګې سره ښه لګيدلې وي البته که د چا په څنګ کښې اَمـرَد ولاړ وي او د هغه سره وګې لګولو سره شهوت پيدا کيږي نو د هغه ځائ نه دِ لرې شي ګني ګنهګار به وي.

## د ښکلولو عذاب

**منقول دي:** "څوک چه کوم يو هلك په شَهوت سره ښکل کړي هغه به پينځه سوه کاله د جَهنَّم په اور کښې سوَزولې کيږي."

(مُکَاشَفَةُ الْقُلُوب ص۷٦)

اے د اور د عذاب د برداشت کولو طاقت نه لرونکو کمزورو بندګانو! که کله مو د اَمـرَد سره بدنظري يا د ښکلولو وغيره کومه ګناه کړې وي نو د **اللّٰه** تعالٰی د يَرې نه ولړزيږئ او په ډيره بيتابئ د

الله تعالیٰ بارګاه ته رُجُوع وکړئ، رښتيني توبه وکړئ او د داسې ګناه بلکه د هر قِسم ګناه نه د بچ کيدو عَزمِ مُصَمَّم [يعني پخه اِراده] وکړئ. خبردار! د اَمـرَد د دوستئ نه د منع کيدو تلقين کوونکـې خيرخواه نه خفه کيږئ مه، د شيطان په راپارولو او په غصَّه کښې د راتللو او نصيحت کوونکـې په دلائلو کښې د نخښلولو او هغه ته د خپلې پاکبازئ يقين ورکولو په وجه کيدې شي چه د دې يو څو ورځو په ژوند کښې تاسو د رُسوائې نه بچ هُم شئ، خو ياد ساتئ چه! رَبِّ ذُوالجلال عَزَّوَجَلَّ د زړونو د د احوال نه خبر دې.

چھپ کے لوگوں سے کئے جس نے گناہ
وہ خبردار ہے کیا ہونا ہے (حَدائقِ بخشِش شریف)

خلقو نه پټ مې ګناهونه چه د چا کړې دي
څه به مې کيږي خبردار دې په اعمالو زما

## په بد نظرئ کولو شکل ورانيدې شي

خوږ مَدَنـې آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلې دې: "تاسو به يا خو خپلې سترګې ښکته ساتئ او د خپلو شرم ګاهونو حِفاظت به

کوئ يا بيا **الله** تعالٰی به ستاسو شکلونه وران کړي. (اَلْمُعْجَمُ الْکَبِیْر لِلطَّبَرانی ج۸، ص۲۰۸حديث۷۸٤۰)

## قبر کښ به مو چينجي د تېولو نه مخکښ سترګه خوري

د زنانؤ او **اَمـرَدانو** سره بدنظري کوونکو خبرادرا! د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي اداري **مَکْتَبَةُ الْمَدِينه** چاپ شوي د ٥٤ صفحو کتاب، **"نصيحتوں کے مدنی پھول"** صفحه ٤٤ کښ دي: (الله تعالٰی فرمائي: اے اِبنِ آدم!) زما حرام کړو څيزونو طرف ته مه ګوره، چينجي به (په قبر کښ) د ټولو نه **مخکښ** ستا سترګه خوري. ياد ساته! حرام ته د کتلو او د هغې په **مَحَبَّت** به ستا **مُحاسَبه** (يعني ستا نه پوښتنه) کيږي. او صبا په ورځ د قيامت زما په دربار کښ ودريدل ياد ساته! ځکه چه زه د لږ ساعت د پاره هُم ستا د رازونو نه نه غافِله کيږم، بيشکه زه د زړونو په خبره خبر يم.

## د نظر د حِفاظت کوونکي د پاره د جَهنّم نه امان دي

خوش چه د **اَمـرَد** او د غيرو ښځو په موجودګئ کښ نظر ښکته ساتي او خپل ګنده خواهش دباووي او هغوئي ته کتلو نه ځان ساتي هغه د ډير ډير مبارکباد قابِل دي چنانچه "نصيحتوں کے مدنی

پهول“ صفحه ۳۰ کښې دي: (الله تعالیٰ فرمائي) چا چه زما د حرام کړو څيزونو نه خپلې سترګې ښکته کړې (يعني هغې ته د کتلو نه ئې ځان وساتو) زه به هغه ته د جَهنَّم نه امان ورکړم.

## د اِبليس زهرژن تِير

د الله تعالیٰ خوږ محبوب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي چه، حديثِ قُدسي (يعني د الله تعالیٰ فرمان) دې: نظر د اِبلِيس د تيرونو نه د زهرو اوبه ورکړې شوې يو تِير دې پس څوک چه زما د يَرې نه دا پريږدي نو زه به هغه ته داسې ايمان ورکړم چه د هغې حَلاوَت (يعني خوږوالې) به هغه په خپل زړه کښې محسوسوي. (اَلْمُعْجَمُ الْكَبِيْر لِلطَّبَرانی ج۱۰ ص ۱۷۳ حديث ۱۰۳۶۲)

## د اَمـرَد سره يواځې کيدل د ووه سرې خوړو ځناورو نه هُم زيات خطرناك

يو تابِعي بزرګ رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: ”زه د ځلمي سالِك (يعني عبادت ګُزار ځلمي) سره د بې کِيرې هلك ناسته د ووه سرې خوړو ځناورو نه زيات خطرناکه ګنړم.“ نور فرمائي: ”يو کس دِ هُم د **اَمـرَد** سره يو مکان کښې يواځې شپه نه کوي.“ اِمام اِبنِ حَجَر مکّـی شافِعی رَحْمَۃُ اللہ

تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: بعضې عُلَماءِ کِرامو **اَمـرَد** په زنانه باندې قياس کړې
دې او په کور، دُکان يا حَمام کښې ئې د هغه سره خَلوَت (يعني يواځې
کيدل) حرام ګرځولي دي ځکه چه د **شَفِيعُ الْمُذنِبِين رَحمَةٌ لِّلعٰلَمِين** صَلَّی اللہ
تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان دې: ”ځوك چه د کومې [غيرې] ښځې سره تنها
[يعني يواځې] وي نو هلته دريم شيطان وي.“ (تِرمِذِی، ج٤، ص٦٧ حديث٢١٧٢)

## اَمـرَد د ښځې نه هُم زيات خطرناک دې!

حضرتِ سَيِّدُنا اِمام اِبنِ حَـجَر مَکِّـی شافِعِي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ليکي:
کوم **اَمـرَد** چه د ښځو نه زيات ښکلې وي په هغه کښې فِتنه هُم زياته
وي، ځکه چه د هغه سره د ښځو په نِسبت د بدئ [يعني بدفِعلئ]
زيات اِمکان وي ځکه د هغه سره تنهائي [يعني يواځې کيدل] بدرجهٔ
اَولٰی حرام دي. (مُلَخَّص از اَلزَّواجِرعَنِ اقتراف الکبائر ج٢ ص١٠) د اَحنافو په نزد که
شَهوت نه وي نو د **اَمـرَد** سره تنهائي حرامه نه ده. بيا هُم د بعضو
شوافِعو په نزد د **اَمـرَد** سره تنهائي اختيارول مُطلقاً حرام کيدل مونږ
ته د احتياط درس راکوي.

# د اَمرَد سره ۱۷ شیطانان

**حضرتِ** سَیِّدُنا سُفیان ثَوري رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ یو حَمَّام ته داخل شو، نو د هغوئي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ خوا ته یو **اَمـرَد** یعني یو بې ګیرې هلك راغې نو وئې فرمائیل: دا زما نه لرې کړئ ځکه چه زه د هرې ښځې سره یو شیطان او د هر **اَمـرَد** سره ۱۷ شیطانان وینم. (ایضاً)

# اَمـرَد "اور" دې

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** اللّٰهُ غَفَّار عَزَّوَجَلَّ دِ مونږه د اور د عذاب نه په حفاظت کښې وساتي او د **اَمـرَد** د ګناهونو نه ډك نزدیکت نه دِ مونږه ټول عُمر وساتي. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم. پخه اِراده وکړئ چه د بدنظرئ د آفت او د **اَمـرَد** د نزدیکت د مصیبت نه به په هر حال کښې اِنْ شَآءَ اللّٰه تعالٰی خپل حفاظت کوو. د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اداري مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د ۵۰۴ صفحو کتاب "**غیبت کی تباه کاریاں**" صفحه ۲۳۹ کښې دي: **خبردار! اَمـرَد خو اور دې اور، د اَمـرَد نزدیکت، د هغه سره دوستي، د هغه سره ټوقې ټقالې کول، د هغه سره کُشتي او مستي کول او غاړې ورکول جهَنَّم ته د تللو باعث جوړیدې شي.** د **اَمـرَد** نه لرې اوسیدو کښې خیر دې

اګرچه د هغه غريب هيڅ قصور نشته، د **اَمـرَد** کيدو په وجه د هغه زړه ازارول هُم نه دي پکار، خو د هغه نه ځان بچ ساتل بېحده ضروري دي. هيڅ کله **اَمـرَد** په سکوټر باندې ځان پسې شا ته مه کښنوئ او نجيله هُم په هغه پسې شا ته مه کښينئ ځکه چه که اور شا ته وي او که مخې ته وي د هغې تودوالې به په هر صورت در رسي. که شَهوت نه وي نو بيا هُم **اَمـرَد** له غاړه ورکول مَحَلِ فِتنه (يعني د فساد ځائ) دې او د شهوت کيدو په صورت کښې غاړه ورکول بلکه لاس ورکول (هُم حرام دي) بلکه فقهائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی فرمائي: **اَمـرَد ته په شهوت کتل هُم حرام دي.** (دُرِّ مُختار ج۲ ص۹۸، تفسيراتِ احمديه ص۵۵۹) د هغه د بدن هرې حِصَّې تر دې چه د هغه د لِباس نه هُم نظر بچ ساتئ. د هغه په تصوَّر که شهوت پيدا کيږي نو د دې نه هُم ځان ساتئ، د هغه د لِيك يا د هغه بل يو څيز ته په کتلو که شهوت پيدا کيږي نو د هغې نه هُم د خپل نظر حفاظت ساتئ، تر دې چه د هغه کور ته هُم مه ګورئ. که د هغه پلار يا مشر ورور ته کتلو سره د هغه خيال درځي او شهوت پيدا کيږي نو هغوئي ته هُم مه ګورئ.

## د اَمـرَد سره ۷۰ شيطانان

د **اَمـرَد** په ذريعه د شيطان عَيَّار او مكّار د تباه كوونكي وار په باره كښ زما **سردار اعلٰى حضرت** رَحۡمَةُاللّٰهِتَعَالٰیعَلَیۡه فرمائي: منقول دي چه: **د زنانه سره دوه شيطانان وي او د اَمـرَد سره اَويا** [شيطانان وي].

(فَتَاوٰی رَضَوِيَّه، ج۲۳، ص۷۲۱)

## اَمرَد خوريا څان سره مه اُوباسه

يو كس د كروړاؤ حَنبليانو د عظيم پيشوا حضرتِ سَيِّدُنا **اِمام اَحمد بِن حنبل** رَحۡمَةُاللّٰهِتَعَالٰیعَلَیۡه په خِدمت كښ حاضر شو. د هغه سره يو ښكلي هلك وو. هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِتَعَالٰیعَلَیۡه تري تپوس وكړو چه: دا تا سره څوك دي؟ عرض ئي وكړو: "دا زما خوريا دي." هغوئي ورته اُوفرمائيل چه آئنده د پاره دا زما خوا ته مه راوله او دي څان سره لاري ته مه اُوباسه چه دا او تا نه پيژندلو والا [يعني چه څوك تاسو نه پيژني هغوئي] بدگُماني نه كوي. (الزَّواجِرج۲ ص۱۲)

## پرهيزګاره هُم نخښلي

يو بزرګ رَحۡمَةُاللّٰهِتَعَالٰیعَلَیۡه ته يو ځل شيطان اُووئيل: د دُنيا د مال د مُحَبَّت نه بچ كيدو كښ خو ستاسو په شان خلق كامياب شي، خو

زما سره د اَمـرَد د کشش داسې جال دې چه په دې کښې غټ غټ پرهيزګاره ښخښلووم.

## د اَمـرَد د فِتنې نه ځان ساتئ

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! اَمـرَد يعنې بې ګيرې هلك کښې عام طور د سړي د پاره کشش وي، په دې کښې ښخپله اَمـرَد بې قصوره دې او په دې باره کښې د هغه زړه ازارول ګناه ده. بس سړي ته پکار دي چه د هغه نه مُحتاط اوسي. بُزُرګانِ دِين رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی د اَمـرَد نه د لرې اوسيدو سخت تاکيد کړې دې ښخکه چه د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي اِدارې مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د ۱۰۱۲ صفحو کتاب، ''جَهنَّم ميں لے جانے والے اعمال'' (جلد ۲) صفحه ۳۱ نه ۳۲ پورې کښې دي چه: په هُم دې وجه صالِحِينو رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی اَمـرَد (يعنې بې ګيرې هلکانو) ته (بې د شَهوته هُم) د کتلو، د هغوئې سره د خلط ملط (يعنې ګډ وډ) کيدو او (که شَهوت نه کيږي نو بيا هُم) د هغوئې سره د ناستې نه د بچ کيدو مُتَعَلِّق مبالغه فرمائيلې ده. (يعنې د بچ کيدو ډير زيات تاکيد ئې فرمائيلې دې)

## د شَهوت پيژندل

د هلك په ليدلو هغه ځان ته د راجوختولو يا د ښكلو خواهش كيدل، دا د شَهوت نښې دي. خو ډير وړوكي ماشوم بغير د شَهوت نه ښكلولو كښ باك نشته.

## د شهوت نه د بچ كيدو ۱۲ مَدَنـي ګُلونه

﴿۱﴾ كه دِكِيرې والا يا بې ګيرې كس بلكه ځناور ته هُم په كتلو كښ شَهوَت راځي نو كتل ورته حرام دي ﴿۲﴾ د خاروو، ځناورو او مرغو شرمګاه او د هغوئې د يو ځائ كيدو يعني ”د كوروالي“ بلكه د مچانو او خزندګانو ”د كوروالي“ تماشې هُم په ګنده خوند سره كتل ناجائزه او ګناه ده، په داسې موقع فوراً سترګې اړول پكار دي بلكه چه ځنګه د دې ”آثار“ محسوس شي نو فوراً د هغه ځائ نه لرې كيدل پكار دي ﴿۳﴾ خوك چه خاروي يا مرغئ يا چرګې خرخوي يا ئې ساتي هغوئې ته په دې باره كښ ډير زيات احتياط كول پكار دي ﴿٤﴾ كه شَهوَت پيدا كيږي نو په لـمانځه كښ هُم په صف كښ د اَمـرَد سره يو ځائ ودريدل نه دي پكار ﴿٥﴾ په درس او اِجتِماع

وغيره کښې هُم د **اَمـرَد** سره نزدې مه کښينئ ﴿٦﴾ که په اِجتِماع کښې د لـمانځه په صف کښې **اَمـرَد** خوا له درشي او لمُونځ مو لا نه وي شروع کړې او د شَهوَت انديښنه وي نو هغه مه لرې کوئ بلکه تاسو پخپله د هغه ځائ نه لرې شئ ﴿٧﴾ **اَمـرَد** ته کتلو سره چه د چا شَهوَت پيدا کيږي هغه ته د **اَمـرَد** نه د خپل نظر حفاظت کول واجِب دي او د داسې ځائ نه هُم بچ کيدل پکار دي کوم ځائ چه **اَمـرَد** هلکان وي ﴿٨﴾ په سائيکل باندې **مخکښې** يا شا ته خوك غيرِ **اَمـرَد** [يعني غټ سړې] هُم داسې کښينول چه د هغه د ورانه سره زنګون وغيره لږي مناسب نه دي ﴿٩﴾ د شَهوَت کيدو باوجود خوك ځان سره په سکوټر يا سائيکل **مخکښې** يا ورروسته کښينول **حرام** دي ﴿١٠﴾ احتياط هُم دې کښې دې چه د ډبلې سوَرلئ په دوران کښې پيړ څادر وغيره په مينځ کښې داسې اينښودل پکار دي چه د دواړو د بدن هره حِصَّه د يو بل نه داسې جُدا وي چه د يو د بدن تودوالې بل ته نه رسي، د دې باوجود که چا ته شهوت کيږي نو فوراً دِ سکوټر ودروي او جُدا دِ شي کَني ګنهګار به وي ﴿١١﴾ په سکوټر باندې د درې سوَرلو يو بل پورې جوخت کښيناستل سخت ناخوښه کار دې او د حادثې د خطرې په وجه زمونږ

په وطن پاکستان کښې قانوناً جُرم هُم دي ﴿۱۲﴾ په څه ځائ کښې چه سړي په يو بل پسې شا ته جوخت ولاړ وي نو په داسې ګڼړه يا قطار کښې قصداً [يعني اِرادتاً] د شامليدو نه بچ اوسئ او که [په داسې حالت کښې] شَهوَت محسوسيږي نو حرام دي. ياد ساتئ! څوك چه ځان د شيطان نه محفوظه ګڼړي، نو وګڼړئ چه شيطان د هغه خِلاف کامياب شوې دې.

## په ګڼړه کښې يو کس ته هُم ننوتل نه دي پکار

په ګڼړه يا قطار کښې چه کله د شا طرف نه دِيکې لګي نو اَمـرَد ته فوراً د هغه ځائ نه وتل مناسب دي بلکه کوم ځائ کښې چه داسې ګڼړه وي چه بدنونه د يو بل سره لګي رالګي هلته اَمـرَد ته هډو ننوتل نه دي پکار چه چرې د هغه په وجه څوك ''ګنهګار'' نه شي. چه کله هُم څه څيز تقسيميږي يا د چا د ليدلو د پاره يا هغه سره د ملاقات د پاره ديکې لګي رالګي په داسې موقع باندې اَمـرَد او غيرِ اَمرَد ټولو ته احتياط کول پکار دي. هر يو پوهيږي چه کعبۃُ اللّٰه ته ننوتل ډير غټ سعادت دي خو په داسې موقع باندې هُم په ګڼړه کښې د ننوتلو نه د بچ کيدو په تاکيد کښې صَدرُ الشَّرِيعه

www.dawateislami.net

[حضرت مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي] رَحۡمَةُاللّٰهِتَعَالٰیعَلَیۡه فرمائي: ”که **زبردست** [يعني طاقتور] **سړي** (كعبةُ الله ته د داخليدو په وخت كښې د زور اخستو او چيتيدلو نه) **ځپله بچ هُم شو نو نورو خلقو ته به** [ځان له د لارې ويستلو د پاره] **ديكې وركوي او تكليف به وركوي او دا جائز نه دي.**“ (بهارِشريعت ج١، ص١١٥٠) په طواف كښې **حَجرِ اَسوَد** ښكلول د سركارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُتَعَالٰی عَلَیۡهِوَاٰلِهٖوَسَلَّم نه ثابت دي خو د هغې د پاره په ګڼړه كښې د ننوتلو په منع كښې اعلىٰ حضرت رَحۡمَةُاللّٰهِتَعَالٰیعَلَیۡه فرمائي چه: د دې د پاره ”مه نورو ته تكليف وركوه او مه ځان ته زور او تكليف وركوه“ بلكه ..... په لاسو ورته اِشاره وكړه او هغه [يعني لاسونه] ښكل كړه. الخ. (فَتَاوٰی رَضَوِیَّه، ج١٠، ص٧٣٩) بهرحال په ګڼړه كښې ننوتلو نه ځان ساتل پكار دي چه چرې زمونږ په وجه چا ته تكليف ونه رسي. ما ډير پوهه اسلامي وروڼړه ليدلي دي چه د ګڼړې په موقع لرې ولاړ وي، هر يو ته هُم داسې كول پكار دي. كه چرې خوك په ګڼړه كښې ګير هُم شي نو د ديكو وهلو شروع كيدو نه مخكښې د بهر وتلو تركيب كول پكار دي خو د دې خبرې خيال ساتل پكار دي چه د وتلو په وخت كښې چا ته تكليف ونه رسي.

www.dawateislami.net

# د اِمامِ اعظم د اَمرَد په باره کښې طرزِ عمل

حضرتِ سَيِّدُنا اِمام محمد رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه چه کله د سَيِّدُنا اِمامِ اعظم ابو حنيفه رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په خِدمت کښې د عِلم حاصلولو د پاره حاضر شو نو ګيره ئې نه وه راغلې او ښکلې اَمـرَد وو، نو سَيِّدُنا اِمامِ اعظم ابو حنيفه رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه ورته حُڪم وکړو چه مخکښې قُرآنِ پاك حِفظ کړه، هغوئې يوه هفته پس د عِلمِ دين حاصلولو د پاره حاضر شو، بيا ئې ورته اُوفرمائيل چه: ما وئيلې وو مخکښې حفظ وکړه خو تاسو بيا راغلئ! هغوئې عرض وکړو چه: حضرت صاحب! ستاسو په حُڪم مې عمل وکړو او حِفظ مې وکړو. صرف يوه هفته کښې د حفظ کولو ئې چه وارويدل نو اِمام اعظم رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د هغوئې د پوهې او قُوَّتِ حافِظه نه بيحده مُتاثِره شو خو د هغوئې په کشش کښې د کمې راوستلو د پاره ئې د هغوئې والِد صاحب ته اُوفرمائيل چه: د ده سر وخريه او زړې جامې ورواغونده، هغوئې سر وخرئيلو او حاضر شو خو بيا هُم د الله تعالیٰ د ويرې سَيِّدُنا اِمامِ اعظم ابو حنيفه رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه هغوئې مخې ته نه کښينولو بلکه خپلې شا ته يا د ستنې شا ته به ئې کښينولو او سبق به ئې ورته وئيلو د پاره د دې چه نظر مې پرې نه

پريوځي. (مُلتَقَطاً مِن المناقِب للكردری ج۲، ص۱٤۷، ٥٥١، رَدُّالْمُحتَار ج۹ ص۶۰۳، شذارت الذهب لابن العمار ج۲ ص۱۷)

آنکھوں میں سرِ حشر نہ بھر جائے کہیں آگ
آنکھوں پہ مرے بھائی لگا قفلِ مدینہ (وَسائلِ بخشِش ص ۱۱۶)

ډکې نه شي چرې اور نه په قيامت کښ دواړه سترګې
وروره ولګو په سترګو باندې قُفلِ مدينه

## د اَمـرَد پيژندل

د دې ايمان تازه کوونکې حِکايت نه د مُدَرِّسِينو [يعني اُستاذانو] سره سره اَمـرَدانو ته هُم د عِبرت درس حاصلول پکار دي. اَمـرَد ته عام طور د خپل اَمـرَد کيدو احساس نه وي. د چا کِيره چه تر څو پورې ښه ښکاره او ګڼره نه شي هغوئې عام طور اَمـرَد وي. بعضې د ۲۲ کالو د عُمره پورې اَمـرَد وي او د بعضو په مخ ګڼره ګيره نه راځي نو هغوئې د ۲۵ کالو يا د دې نه هُم د زيات عُمره پورې اَمـرَد وي. د اَمـرَد نه علاوه هُم که يو سړې مَثَلًا د اَمـرَد مشر وروړ يا پلار يا نيکه ته په کتلو شَهوَت پيدا کيږي او د "ګنده خوند" سره بيا بيا د

هغه طرف ته ستركې پورته كيږي نو اوس كوم كس ته چه ګوري كه هغه بُوډا وي نو بيا هُم ورته په شَهوَت كتل حرام دي.

ديكهنا ہے تو مدينہ ديكهئے قصرِ شاہى كا نظاره كچھ نہيں

كه وِينئ نو مدينه اُووِينئ هيڅ خيز نه دې د شاهي محل نَظاره

## اَمـرَد ته تُحفه وركول څنګه دي

د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي اِدارې مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د ۳۹۷ صفحو كتاب "پردے كے بارے ميں سوال و جواب" صفحه ۳۳۰ نه يو فائده سوال او جواب اوګورئ: **سُوال:** د سړي د شَهوَت په وجه **اَمـرَد** سره دوستي ساتل او هغه ځان سره نور عادت كولو د پاره هغه ته تُحفه او دعوت وركول څنګه دي؟

**جواب:** داسې دوستي كول ناجائزه او حرام دي بلكه فُقَهائے كرام رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰى فرمائي چه: "اَمـرَد ته شَهوَت سره كتل هُم حرام دي." (دُرِّ مُختار ج۲، ص۹۸، تفسيراتِ اِحمديه ص۵۵۹) او د شَهوَت په وجه **اَمـرَد** ته تُحفه وركول يا هغه ته [د طعام وغيره] دعوت وركول هُم حرام او جَهنَّم ته بوتلونكي كار دې.

## "مُحتاط بنده خوشحال اوسي" د ۱۹ حُروفو په نِسبت د اَمرَد د پاره ۱۹ مَدَني گُلونه

(د دې وړاندې کړو احتياطونو په وجه بې د شرعي مَصلحَته مور و پلار يا د کور نور کسان مه خفه کوئ)

۞ د هلك د پاره خير په هُم دې کښې دې چه د خپل عُمر نه زيات عُمر والا سړي نه لرې اوسي. ډير نازك دور دې مَعَاذَالله عَزَّوَجَلَّ نن صبا د "پلار او لور" او د مشر او کشر سکه ورونړو په خپل مينځ کښې هُم د "گنده مُعاملاتو" لړزوونکي خبرونه اوريدې شي ۞ يقيناً هر غټ کس د وړوکي په حق کښې "بد" نه وي، خو بيا هُم تاسو د کوم يو "غټ کس" سره د دوستۍ جوړولو په وجه هغه او خپل ځان د بربادۍ په خطره کښې مه اچوئ ۞ بالِغان اَمرَد هلکان دِ هُم په خپل مينځ کښې په آزادۍ ساتلو يو بل له غاړې ورکولو، او يو بل پورته پورته کولو، د يو بل راپرزولو، د يو بل په غاړه لاس اړولو او ځان ته د راجوختولو وغيره په حرکتونو د شيطان په لاسو کښې نه لوبيږي. د شَهوَت سره د اَمرَد داسې حرکتونه هُم حرام دي ۞ بې د شرعي مَصلَحته د ځان نه غټو کسانو سره "ډيره زياته د خوش

اخلاقئ" مُظاهره مه کوئ، ګنې په "ازمينبت" کښې پريوتې شئ ۞ که کوم يو "غټ کس" باندې پوهه شئ چه تاسو سره غير ضروري زړه لګوي، بيا بيا تُحفې درکوي، ستاسو بې ځايه صِفتونه کوي او داسې کولو سره تاسو ته "کشر ورور" هُم وائي نو اګر که هغه ستاسو اُستاذ هُم وي نو د هغه نه ځان ډير په احتياط کښې ساتئ ۞ **اَمـرَد** ته (د ۲۲ کالو نه وړوکي ته او که د **۲۵** کالو يا د دې نه د زيات عُمر باوجود ښکلې **اَمـرَد** وي نو هغه ته هُم) په مَدَني قَافِله کښې د سفر اجازت نشته، که کوم يو غټ اسلامي ورور ئې د ځان سره په سفر د بوتلو د پاره ضِد وکړي او د هغه د سفر خرچه هُم وړاندې کړي نو د مَدَني مرکز د حُکمِ ممانعت طرف ته دِ د هغه تَوجُّه وګرځولې شي او که بيا هُم ضِد کوي نو د هغه "غټ" نه ډير محتاطه شئ ۞ د غټو اسلامي ورونړو نه بيشکه بالکل جُدا اوسئ خو فُضول د چا په باره کښې بدګُمانئ کولو او په غيبتونو او تُهمتونو کښې اخته کيدو او د مَدَني ماحول خرابولو والا حرکتونو باندې خپل آخرت مه خرابوئ ۞ [اَمرَد د] د اختر په ورځ هُم خلقو ته غاړه نه ورکوي، خو ځوك رتئ مه بلکه په حِکمتِ عملئ سره ترې

اخوا ديخوا كيږئ، **اَمـرَد** دِ هُم يو بل ته غاړه نه وركوي ۞ د مور او پلار او نيا او نيكه وغيره او د خاندان د نورو بوډاګانو نه علاوه د چا سر او ښپې وغيره مه زور كوئ، او څوك اسلامي وړور خپل سر يا ښپو زور كولو او لاسونو ښكلولو ته مه پرېږدئ ۞ د كوم يو پرهيزګاره كس، اګركه خپل كس بلكه كه اُستاذ هُم وي احتياط هُم دې كښې دې چه د يو غټ كس سره هُم بلكه **اَمـرَد** هُم د **اَمـرَد** سره د تنهائي [يعني يواځې كيدو] نه ځان ساتې. خو كه څه مانِع [يعني رُكاوټ] نه وي نو د پلار يا سكه مشر وړور وغيره سره په تنهائي كښې باك نشته ۞ په مدرسه وغيره كښې چه كله ډير كسان په يوه كوټه كښې اوده كيږي نو **اَمـرَد** او غيرِ امرد ټولو ته پكار دې چه د پاجامې [يعني پرتوګ] د پاسه لنګ وتړي او كه نه وي نو يو څادر دِ راتاوهې او **د پردې د پاسه پرده** دِ كوي، د هرو دوو كسانو په مينځ كښې مناسب فاصِله ساتئ او كه كيدې شي نو په مينځ كښې څه بالښت يا بيګ وغيره غټ څيز د رُكاوټ په طور كړدئ. په كور كښې بلكه يواځې هُم **د پردې د پاسه پرده** كولو سره د اُوده كيدو عادت جوړ كړئ، په مَدَني قافِله او اِجتِماع وغيره كښې هُم د اُوده كيدو په

وخت کښې هُم داسې کوئ ۞ چه کله هُم کښېنئ **د پردې د پاسه پرده** لازمې کوئ ۞ ډَوَل او سِينګار مه کوئ. د هُم دې رسالې په صفحه ۳٤ کښې ورکړې شوې د اِمامِ اعظم ابُو حنيفه رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَيۡه د **حِکايت** په رنړا کښې د **اَمـرَد** حَلق کول (يعني سر خرئيل) هُم مناسب دې او که د سُنَّت په نِيَّت زُلفې پرېږدې نو د نيم غوږ پورې دِ ئې پرېږدې د دې نه دِ زياتې نه پرېږ دې ۞ د زرې د غاړو والا ښکلې عِمامې په ځائ د ارزان رَخت [يعني د ارزانې کپړې] ساده وړه شان عِمامه شريف او هغه هُم په ښائسته انداز د ترلو په ځائ لږه سسته شان ترړئ ۞ په عِمامه شريف باندې د نَعلِ پاك نقش وغيره مه لګوئ ځکه چه د هغې په وجه د خلقو سترګې مُتَوَجِّه کيږې او د بعضو د پاره د بدنظرئ باعِث جوړيږې ۞ په مخ باندې کريم يا پاوډر وغيره بالکل مه لګوئ ۞ که ضرورت وې نو حَتَّی الاِمکان ارزانې ساده شان چشمې استعمالوئ، د ستيلو وغيره ښکلې فريم والا چشمې مه اچوئ ځکه چه هغه د خلقو د پاره د بدنظرئ سبب جوړيدې شي ۞ د بدبوئې نه بچ کيدل پکار دې، لِهٰذا عطر بيشکه لګوئ خو داسې چه د هغې خوشبو نه خوريږې ۞ د خپلو

جامو وغيره په انداز کښې د هر هغه مُباح څيز (يعني جائز څيز چه کول ئې نه ثواب او نه ګناه وي مثلاً اِستري کړو جامو وغيره) نه هُم د ځان ساتلو کوشش کوئ چه د هغې په وجه خلق مُتَوَجِّه کيدې شي او **مَعَاذَالله** عَزَّوَجَلَّ په ګناه کښې اخته کيدې شي. (اِمامِ اعظم رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَيۡه د خپل **اَمـرَد** شاګرد د پاره د سر خرئيلو او د زړو جامو اغوستلو حُکم فرمائيلې وو. دا خبره ښه ياده لرئ)

**مَدَنـي عرض:** مور و پلار او اُستاذانو وغيره ته هُم پکار دي چه د ذِکر کړې شوو مَدَنـي ګلونو په رنړا کښې **اَمـرَدانو** ته د هر قِسم "فيشن او سينګار" نه د بچ کيدو تاکيد کوي.

## دااَمرَد نعت شريف لوستل

**اَمـرَد** ته د نورو سره په شريکه نعت شريف وئيلو نه بچ کيدل مناسب دي. چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اِدارې **مَكۡتَبَةُالۡمَدِينه** چاپ شوې د ٥٦١ صفحو کتاب **"ملفُوظاتِ اعلٰی حضرت"** ٥٤٥ کښې دي: **عرض:** [يعني سوال]: مِيلاد خوان (يعني نعت شريف وئيوونکي) سره که **اَمـرَد** شامِل شي نو څنګه ده؟ **اِرشاد** [يعني جواب]: "نه ده پکار." (ملفُوظاتِ اعلٰی حضرت ص٥٤٥) کاش چه! **اَمـرَد** صرف ځان له ځائ کښې يا صرف د خپل کور د کسانو په مخکښې نعت شريف وائي، اِنۡ

شَآءَاللّٰه تعالیٰ ډیر زیات کرم به کیږي. د هر کس په مخکښې چه اَمـرَد نعت شریف وائي نو د بعضې خلقو د بدنظرۍ نه بچ کیدل ډیر زیات مشکل شي او هسې هُم په طرز او خوږ آواز وئیلو کښې یو قِسم جادو وي. د عاشقِ رَسُول د پاره خو په ځان له ځائ کښې د نعت شریف وئیلو څه بل شان مزه وي! ــه

دل میں ہو یاد تری گوشہ تنہائی ہو　　پھر تو خلوت میں عجب انجمن آرائی ہو

یواځې ناست یم تصوّر کښې ستا سرداره نبي
هغه خَلوَت به څومره خوږ وي زما دِلداره نبي

## د هینډ پریکټِس عذاب

د نارینه یا زنانه هینډ پریکټس کول حرام دي، په داسې کوونکې باندې حدیث شریف کښې لعنت شوې دې. د فقیه اَبُو اللَّیث سَمرقَندي رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡہ په بیان کړې شوې یو حدیثِ پاك کښې د ووه ګنهګارو کسانو د عذاب تذکِره ده په هغې کښې یو **مُشت زنې کوونکې** [یعنې د خپل مُوټې سره زنا کوونکې] هُم دې چه په ورځ د قیامت به **الله** تعالیٰ نه هغه ته د رحمت په نظر ګوري او نه به هغه پاك کوي بلکه هغه ته به نیغ جَهنَّم ته د تللو حُکم ورکړې شي. (تَنبِیهُ الغَافِلِین ص۱۳۷) اعلیٰ حضرت اِمام اَحمد رضا خان رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡہ د یو سوال په

www.dawateislami.net

جواب کښې اِرشاد فرمائي: (مُشت زني [یعني د خپل مُوټې سره زنا] کوونکې) ګنهګار دې، عاصي دې، د اِصرار په سبب د کبیره مُرتکب دې، فاسِق دې. نور فرمائي: څوك چه مُشت زني کوي [یعني د خپل مُوټې سره زنا کوي] هغوئي که بې توبه کولو مړه شو نو په ورځ د قیامت به په داسې حالت کښې راپاڅي چه د هغوئي ورغوي به حامِله (یعني بلارب) وي او د هغې په وجه به د خلقو په ډیره غټه ګڼړه کښې د هغوئي رُسوائي کیږي. (مُلَخَّص از فَتَاوٰی رَضَوِیَّه، ج۲۲، ص۲۴۴)

## برباده ځواني

د ګناهونو د سیلاب هلاکتونه! د بې حیائي او بې پردګۍ طوفان، [د هلکانو او جینکو] ګډ وډ تعلیمي نظام، د ښځو او سړو اختلاط یعني [په بازارانو، ودونو وغیره کښې د یو بل سره] ګډو وډو کیدلو، په ټي وي او په انټرنیټ باندې فِلمونو، ډرامو او شَهوَت راپاروونکو نظارو، د رسائلو او جَرائدو شَهوَت پیدا کوونکو مضمونونو وغیره د نن صبا ځلمي لیوني کړي دي! د حضرتِ سَیِّدُنا زید بن خالد رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوایت دې: "اَلشَّبَابُ شُعْبَةٌ مِّنَ الْجُنُوْنِ" یعني ځلمي توب د لیونتوب یوه شُعبه ده. (مُسنَدُ الشِّهاب ج۱ ص۱۰۰ حدیث۱۱۶) د نن صبا ځلمي نه شیطان خپل دائره مضبوطه راتاو کړې ده، اګرکه

www.dawateislami.net

هغه په ظاهره لمُونځ ګُزاره او د سُنَّتو پابند ښکاري، خو د خپل شَهوَت پوره کولو د پاره سرګردانه ګرځي، مُعاشره ئې د غلط رسم و رواج په وجه په واده کښې غټې رُکاوټ جوړه شوي ده، امتحان، سخت امتحان دې خو د امتحان نه تښتيدل د نارينه کار نه دې. په صبر کولو اجر ګټل پکار دي ځکه چه که شهوت څومره ډير تنګول کوي هغه هُمره به په صبر باندې اجر هُم زيات حاصليږي. که چا د شَهوَت پوره کولو د پاره ناجائزه ذريعې اختيار کړې نو د دواړو جهانو نقصان او جَهنَّم ته بوتلونکې کار دې. حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو دَرداء رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنۡهُ فرمائي: ”د شَهوَت د يو ساعت پيروي [يعني منل] د اوګږده غم باعِث وي.“ (اَلزّهدُ الْکَبِیْر للبیهقی ص۱۵۷ حدیث.۳٤٤)

## د حياء پيغام

د دې ليك په دوران کښې مې د حياء نه بدن او قلم رپيږي، خو زما دې ګُزارشاتو ته څوك بې حيائي نه شي وئيلې بلکه دا خو رسا د حياء درس دې. ”**اللّٰه تعالیٰ هر څه وِيني**.“ د اد هغوئي د پاره پيغام دې څوك چه د اِيمان لرلو باوجود په خپل زُعمِ فاسِد (يعني غلط خيال) کښې ”په پټه“ د بې حيائي کار کوي. آه! ګنده ذِهن لرونکې ډير ځلمي او پيغلې په واده کښې د رُکاوټ په وجه په خپلو لاسو خپله

www.dawateislami.net

**ځواني بربادول** شروع کړي. په شروع کښې اګرکه خوند هُم ورکوي، خو کله ئې چه سترګې وغړېږي نو اوبه د سره اووښتي وي. ياد ساتئ دا فِعل [يعني دا کار] حرام او ګناه ده او په حديثِ پاك کښې داسې کوونکي ته ”ملعُون“ [يعني لعنتي] وئيلې شوې دې او هغه د جَهنَّم د دردناك عذاب حقدار دې. آخرت ته ئې هُم خطره ده او په دُنيا کښې هُم د دې ډېر زيات سخت نقصانونه دي، دې غير فِطري عمل سره صِحت هُم تباه او برباد شي.

يو ځل چه دا عمل وکړي نو بيا ئې زړه غواړي، **مَعَاذَالله** عَزَّوَجَلَّ چه يو څو ځله ئې وکړي نو پړسوب ورسره پيدا شي او د آلې [يعني د شرمګاه] نرم او نازك رګونه په سُوليدو سُوليدو زور واخلي او سست پريوځي او پټې ئې بېحده حسَّاسې شي او آخر خبره دې حد ته راورسي چه د معمولي بدنظرئ سره بلکه د سوچ راوستلو سره ئې مني خارجيږي، بلکه د جامو سره سوليدو باندې ئې هُم مني ضائع کيږي. ”مني“ د هغه وِينې نه جوړيږي، کومه چه ټول بدن ته د خوراك رسولو نه پس پاتې شي. چه دا په کثرت سره خارجيږي نو

وِینه به بدن ته خوراك څنګه ورسوي؟ نتیجه ئې دا وي چه د ټول بدن نظام تباه او برباد شي.

## د هینډ پریکټس ٢٦ جِسماني آفتونه

﴿١﴾ زړه کمزورې کیدل ﴿٢﴾ معده ﴿٣﴾ ځِیګر او ﴿٤﴾ پښتورګي [یعني ګُردې] خرابیدل ﴿٥﴾ نظر کمزورې کیدل ﴿٦﴾ غوږونو کښې شنګارې کیدل ﴿٧﴾ په وړه وړه خبره غُصَّه راتلل ﴿٨﴾ سحر پاڅیدو سره بدن کښې سستي ﴿٩﴾ په جوړونو کښې درد او سترګې چخنې چخنې ﴿١٠﴾ د "مني" د نرې کیدو په وجه لړ لړ لـمدوالې مسلسل بهیدل، [د مِتیازو] په نلکئ کښې د مسلسل لـمدوالي په وجه هغه سخا کیدل او بیا د هغې په وجه کله کله زخم کیدل او په هغې کښې نَو کیدل ﴿١١﴾ په شروع شروع کښې په مِتیازو کښې معمولې سوې ﴿١٢﴾ بیا مَواد راوتل ﴿١٣﴾ بیا په سوزیدو کښې زیاتوالې ﴿١٤﴾ تر دې چه د زاړه سوزاك (یعني په مِتیازو کښې د سوې او نَو راتلو) سره سرې د ژونده دومره تنګ شي چه د مرګ خواهش لرې ﴿١٥﴾ "مني" د نرې کیدو په وجه بې د څه سوچه د مِتیازو نه مخکښې یا پس په مِتیازو کښې وتل. دې ته "جِریان" هُم

www.dawateislami.net

وائي، چه د ډيرو سختو مرضونو جرړه ده ﴿۱۶﴾ د اندام [يعني د تشو بولو د آلې] کړېدل ﴿۱۷﴾ د اندام [يعني د تشو بولو د آلې] سستيدل ﴿۱۸﴾ جرړه ئې کمزوري کيدل ﴿۱۹﴾ د واده قابِل نه پاتې کيدل ﴿۲۰﴾ که په جِماع کښ کامياب هُم شو نو د اولاد اُمِيد ئې نه وي ﴿۲۱﴾ په ملا کښ درد ﴿۲۲﴾ مخ زيړ ﴿۲۳﴾ سترګې ننوتې ﴿۲٤﴾ شکل يَرووونکې ﴿۲۵﴾ تَبِ دِق (يعني تي بي، زړه تبه چه عام طور د سګي د خرابيدو په وجه وي) ﴿۲۶﴾ ليونتوب

## هينډ پريکتِس کوونکې هر پينځم کس ليونې

د يو خبر مطابق چه د تي بي د زرو [۱۰۰۰] مريضانو په اسبابو غور وکړې شو نو دا نتيجه اُووتله چه ٤۱٤ د مُشت زنئ [يعني د خپل لاس سره د زِنا] په وجه، ۱۸٦ د جِماع [يعني د کوروالي] د زياتي په وجه او باقي د نورو وجوهاتو په وجه په تي بي کښ اخته شوې وو. د ۱۲٤ ليونو چه معلومات وکړې شو نو ښکاره شوه چه په هغوئي ۲٤ (يعني تقريباً هر پينځم کس) په خپلو لاسو د ''مني'' خارجولو په وجه ليونې شوې وو.

www.dawateislami.net

## ”صبر شه“ د پينځه حُروفو په نِسبَت

## د دې ګناه نه د بچ کيدو ۵ روحاني علاجونه

په حُسنِ اِعتِقاد او ښه نِيَّت چه څوك هُم دا اعمال كوي اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د هينډ پريکټِس د مُصيبت نه به خلاصي مومي ﴿۱﴾ چه هر يو (ښځه يا سړې) مَعَاذَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ په دې ګنده فِعل كښې اخته وي، دوه رکعاته صَلوٰةِ تَوبه دِ وکړي او د زړه په صِدق دِ توبه اُوباسي او د آئنده د پاره دِ د دې ګُناه نه كولو پخه وعده وکړي او په توبه باندې د اِستِقامت د پاره دِ په ژړا او زارئ دُعا وکړي ﴿۲﴾ په كثرت سره دِ روژې نيسي، اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ شَهوَت به ئې مغلُوب (يعني كنټرول) شي ﴿۳﴾ مسلسل د ٤١ ورځو پورې دِ ۱۱۱ ځله د يَامُؤْمِنُ وظيفه وكړي (اول آخر دِ ترې درې درې ځله دُرُود شريف ولولي) ﴿٤﴾ د اُوده كيدو په وخت كښې په ملاسته ملاسته د يَامُمِيْتُ په وظيفه كولو كولو كښې اُوده كيږئ. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ فائده به وشي (چه كله هُم په ملاسته ملاسته څه لوَلئ نو پكار ده چه ښپې مو راغونډېوي) ﴿۵﴾ هره ورځ دِ (اول آخر درې درې ځله يا يو يو ځله دُرود شريف او) ۱۱ ځله سُورَةُ الْاِخْلَاص لوَلي، شيطان به پرې سره د لښكره هُم اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ ګناه

ونکړې شي تر څو ئې چه دا (لوستونکې) ېخپله ونکړي. (د نيمې شپې ختميدو نه پس نه واخله د نمر د وړومبۍ ځريکې نه مخکښ پورې سحر وي)

## د "يَا کَرِيمُ" د شپږو حُروفو په نِسبت د دې ګناه نه د بچ کيدو ٦ تدبيرونه

﴿۱﴾ د اَمرَد د شوق لرلو د آفَت، د بدنظرۍ او د هيندِ پريکټس په عذاباتو او دُنياوي نُقصاناتو دِ غور کوي او ځان دِ [د دې خبرو] نه ډير ډير يَروي. ﴿۲﴾ څوك چه شَهوَت تنګوي هغه دِ فوراً واده وکړي ﴿۳﴾ د واده والا کس [د مُلك يا ښار نه] بهر د نوکرۍ يا کاروبار وغيره د پاره د څلورو مياشتو نه زيات د خپلې ښځې نه لرې اوسيدل (د ښځې او خاوند دواړو د پاره) ډير زيات خطرناك دي، که د لرې اوسيدو په وجه دواړه په دې بد فِعل کښې اخته شي او خپله دُنيا او آخرت برباد کړي نو عجبه نه ده. اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللّٰهِتَعَالٰیعَلَیۡه په فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه، جِلد ۲۳،صفحه ۳۸۸ کښې فرمائي: بې ضرورته په سفر کښې زيات اوسيدل هيڅ چا له نه دي پکار، حديث شريف کښې حُکم فرمائيلې شوې دې "چه کله کار وشي نو د سفر نه زر بيرته راشه." (مُسلِم ص۱۰۶۳ حديث۱۹۲۷) او که په وطن کښې ئې ښځه پريښې وي نو هغه

www.dawateislami.net

ته حُکم دې خومره [زر چه] کيدې شي په خلورو مياشتو کښې دننه دننه دِ بيرته راشي (ځکه چه اَميرُالمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ مسلمانانو ته هُم دا حُکم فرمائيلې وو) ﴿٤﴾ د هر داسې کار او ځائ نه دِ بچ اوسي چه د هغې سره شَهوَت زياتيږي مَثَلًا په کومو کارونو يا ځائيونو کښې چه د **اَمـرَد** سره **مخامخ** کيدل کيږي، د داسې موقعو نه دِ لرې اوسي ﴿٥﴾ [د هر نارينه نه د هغه] د ورندار، چاچې، مامې، د تره د لور او د ترور د لور شرعاً **پرده** ده، خوک چه **مَعَاذَ الله** د دوئي نه خپل نظر نه ساتي، آزادي ورسره ساتي، ټوقې ټقالې ورسره کوي او د شَهوَت د زياتوالي شکايت هُم کوي هغه د بې وقوفو سردار دې ځکه چه پخپله په اور کښې لاس کړدې او بيا چغې وهي چه بچ مې کړئ لاس مې وسوزيدو! هُم دا حال د فِلمونو ډرامو کتلو والا او د سندرو او سازونو اوريدلو والا دې ﴿٦﴾ د [مجازي] عشق و مَحَبَّت د ګناهونو ډکو قيصو او داسې نورو اخباري مضمونونو، بلکه د ګنده خبرونو او د ښځو د تصويرونو نه ډکو اخبارونو لوستلو نه دِ ځان ساتي. ګني د بدنظرئ نه ځان ساتل به ډير زيات مشکل شي. وائي چه: ”خود کرده را علاجے نيست“ يعني د خپلو کړو هيڅ علاج نشته. (د شهوت پرستئ او د نارينه او زنانه د هينډ پريکټس د

جُدا جُدا تباهو د نورو معلوماتو د پاره د خليفۀ اعلٰی حضرت، مُبَلِّغِ اسلام، حضرت مولانا عبد العليم صدّيقي رَحۡمَةُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ مختصر کتاب ''بهارِ شباب'' ولولئ)

چھپ کے لوگوں سے کئے جس نے گناہ　　وہ خبردار ہے کیا ہونا ہے
کام زنداں کے کئے اور ہمیں　　شوقِ گلزار ہے کیا ہونا ہے
ارا و مجرم بے پروا! دیکھ　　سر پہ تلوار ہے کیا ہونا ہے
ان کو رحم آئے تو آئے ورنہ　　وہ کڑی مار کے کیا ہونا ہے

(حدائقِ بخشش شریف)

پټ مې چه ګناهونه کړي　　هغه خبردار دې راسره څه به کيږي
کارونه کړي د دوزخ دِ مونږه　　شوق د جَنَّت لرو چه څه به کيږي
اے بې پرواه مُجرِمه اوګوره لږ　　تُوره په سر ده راسره څه به کيږي
چرې رحمت که هغوئې وکړو کَنې　　سخته سزا ده راسره څه به کيږي

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد
تُوبُوا اِلَى الله!　　اَسْتَغْفِرُ الله
صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: ''چا چه زما د سُنَّتو سره

www.dawateislami.net

مَحَبَّت وکړو هغه زما سره مَحَبَّت وکړو او چا چه زما سره مَحَبَّت وکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي." (ابنِ عساکر ج۹ ص۳۴۳)

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا
جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا
جنّت کښې مې خپل جوړ کړه گاونډي خوږه آقا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## "نوم د محمد خومره خوږ دي" د ۱۸ حُروفو په نسبت د نوم ايښودو په باره کښې ۱۸ مَدَني گُلونه

❀ دوه فَرَامِينِ مُصطَفٰى صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: (۱) د ښو [خلقو] په نومونو نوم کېږدئ (اَلْفِرْدَوْسُ بِمَأْثُورِ الْخِطَابِ ج۲ ص۵۸ حديث۲۳۲۹) (۲) د قيامت په ورځ به تاسو ته ستاسو او ستاسو د پلارونو په نومونو غږ [يعني آواز] کيږي لِهٰذا خپل ښه نومونه کيږدئ (سُنَنُ اَبی داؤد ج۴ ص۳۷۴ حديث۴۹۴۸) ❀ صَدرُ الشَّرِيعه، بَدرُ الطَّرِيقه حضرت مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: د ماشوم ښه نوم ايښودل پکار دي، په هندوستان کښې د ډيرو خلقو نومونه داسي دي چه د هغې هيڅ معنٰى نشته يا بدې معنې لري، داسې

www.dawateislami.net

نومونو نه اِحتِراز [يعني ډډه] کوئ. د انبياءِ کِرام عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام په مُبارکو نومونو او د صحابهٔ کرام (عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان) او تابِعِينو او بُزرګانِ دِين (رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی) په نومونو، نوم ايښودل بهتر دي، اُمِيد دې د هغوئي بَرَکت به د ماشوم سره شامِلِ اوسي (بهارِ شرِيعت ج۳ ص۶۵۳) ❁ که ماشوم ژوندې پيدا شي او که مړ، که پوره [انسان] پيدا شي او که نيمګړې بهرحال د هغه نوم ايښودل پکار دي او د قِيامت په ورځ به د هغه حشر کيږي (يعني راپاڅي به) (دُرِّ مُختار ج۳ ص۱۵۳،۱۵۴، بهارِ شريعت ج۱، ص۸۴۱) معلومه شوه چه کوم ماشوم کچه پريوځي د هغه هُم نوم ايښودل پکار دي. څنګه چه د مَکْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوې رِسالې "اولاد کے حقوق" صفحه ۱۷ کښې دي: نوم ايښودل پکار دي، تر دې چه د هغه کچه ماشوم هُم کوم چه د کمو ورځو ضائع شي، ګني د الله تعالٰی په بارګاه کښې به ګِيله کوي. فرمانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د کچه ماشوم نوم کيږدئ ځکه چه الله تعالٰی به د هغه په ذريعه ستاسو مِيزان (يعني تله) درنوي (اَلْفِرْدَوْسُ بِمَأْثُورِ الْخِطَاب ج۲ ص۳۰۸ حديث۳۳۹۲) ❁ "مُحَمَّد" نوم ايښودو باره کښې درې فرامِينِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ﴿۱﴾ د چا چه ځوئ پيدا شو او هغه زما د مَحَبَّت او زما د نوم نه بَرَکت حاصلولو د پاره د هغه نوم مُحَمَّد کيږدي هغه او د هغه ځوئ دواړه به جَنَّت ته ځي (جَمْعُ الْجَوَامِع ج۷ ص۲۹۵ حديث۲۳۲۵۵) ﴿۲﴾ په ورځ د قيامت به دوه کسان د الله تعالٰی په بارګاه کښې ودرولې شي، حُکم به

www.dawateislami.net

وشي: دوئي جَنَّت ته بوځئ. عرض به وکړي: مونږ په څه عمل د جَنَّت قابِل شو؟ فرمائي به: جَنَّت ته لاړ شئ ما حَلَف کړي دي چه د چا نوم اَحمد يا مُحَمَّد وي هغه به دوزخ ته نه ځي (فتَاوٰی رَضَوِيّه، ج۲٤، ص٦٨٧، اَلْفِردَوْس بِمَأثُورِ الخِطَابِ ج٥، ص٥٣٥ حديث٩٠٠٦) ﴿۳﴾ په تاسو کښې د چا څه نُقصان دې که د هغه په کور کښې يو مُحَمَّد يا دوه مُحَمَّد يا درې مُحَمَّد وي. (الطبقاتُ الکُبرٰی لابن سعد ج٥ ص٤٠) د دې حديثِ پاك نقل کولو نه پس چه اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه څه ليکلي دي د هغې خُلاصه ده: ځکه ما د خپلو ټولو ځامنو او وريرونو په عقِيقه کښې صرف مُحَمَّد نوم کيښودو. بيا د نوم مُبارك د آدابو د حِفاظت او د دې د پاره چه د ماشومانو پيژندګلو کيدې شي ځکه مې عُرف (يعني د غږ کولو نومونه) جُدا مُقرر کړل. بِحَمدِاللّٰهِ تعالٰی پينځه مُحَمَّد اوس هُم موجود دي او د پينځؤ نه زيات په خپله لاړ تلي يعني وفات شوي دي. (مُلَخَّص از فتَاوٰی رَضَوِيّه، ج۲٤، ص٦٨٩) د حُجَّةُ الاِسلام اِمام ابو حامِد محمّد بِن محمّد بن محمّد غزالي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه خپل، د والِد صاحِب نوم او د نيکه صاحب نوم مُحَمَّد وو يعني مُحَمَّد بِن مُحَمَّد بِن مُحَمَّد

## د نارِينه اَولاد کيدو د پاره عمل

د حضرتِ سَيِّدُنا اِمام اَبُو حنيفه رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه اُستاذِ ګرامي جليل القدر تابعي اِمام عطا رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: څوك چه غواړي چه د ښځې ئې په حَمل کښې ځوئ وشي، هغه ته پکار دي چه خپل لاس د حامِله ښځې په خيټه کيږدي او اُووائي:

كه هلك دې نو ما د ده نوم **مُحَمَّد** كښيودو. اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْعَزِيز ضرور به هلك كيږي. (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه، ج٢٤،ص٦٩٠) ❁ نن صبا د نوم ورانولو وَبا عامه ده او د **مُحَمَّد** نوم ورانول خو ډيره سخته تكليف وركوونكي خبره ده. لِهٰذا د هر هلك نوم **مُحَمَّد** يا **اَحمد** كيږدئ او د عُرف يعني غږ كولو د پاره ورله مَثَلًا **بِلال رضا، هِلال رضا، جمال رضا، كمال رضا** او **زَيد رضا** وغيره نوم كيږدئ ❁ د فرښتو په **مخصوصو** نومونو نوم ايښودل صحيح نه دي، لِهٰذا د چا نوم جِبريل يا مِكائيل وغيره مه كږدئ. فرمانِ مُصطَفٰى صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د ملائيكو [يعني فرښتو] په نوم، نوم مه كږدئ (شُعَبُ الْاِيْمان ج٦ص٣٩٤ حديث٨٦٣٦) ❁ **محمد** نبي، اَحمد نبي، نبـي اَحمد نوم ايښودل حرام دي (مُلَخَّص از فَتَاوٰی رَضَوِيَّه، ج٢٤،ص٦٧٧) ❁ چه كله هُم نوم كږدئ د هغې په معنٰى غور [سوچ، فِكر] كوئ، يا د يو عالِم نه تپوس كوئ، د بدو معنو والا نومونه مه كږدئ مَثَلًا د غَفُورُ الدِّين معنٰى ده: دِين ورانولو [يعني ختمولو] والا، دا نوم ايښودل سخته بده خبره ده ❁ بد نومونه بد تاثِير لري چنانچه اعلٰى حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: ما د بدو نومونو سخت بد اثر پريوتل په خپلو ستركو ليدلي دي، بنه د سُنِّي شكل والا مې په آخري عُمر كښې ”دِين پوش او ناحق كوش“ (يعني دين پټوونكې او د ناحق د پاره كوشش كوونكې) جوړ شوې ليدلي دي (مُلَخَّص از فَتَاوٰی رَضَوِيَّه، ج٢٤،ص٦٨١،٦٨٢) ❁ د نوم اثرات په آئنده نسل كښې هُم ښكاره كيدې

شي، ”بهارشريعت“ جِلد ۳ صفحه ۶۰۱ کښې حديث نمبر ۲۱ دې: په ”صحيح بُخاري“ کښې سعيد بِن مُسَيَّب رَحْمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیْہ نه رِوايت دې، وائي: زما نيکه د رسُولِ کريم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې حاضر شو. حُضور (صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم)ترې تپوس وکړو: ستا څه نوم دې؟ هغوئي اووئيل: حَزْن. [حُضُور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم] اُوفرمائيل: ته **سَهْل** ئې. يعني خپل نوم ”سَهْل“ کيږده چه د دې مُعنٰی ده **نرم** او ”حَزْن“ سخت ته وائي. هغوئي اُووئيل: کوم نوم چه زما پلار ايښې دې هغه نه بدلووم. سعيد بِن مُسَيَّب وائي: د دې نتيجه دا وشوه چه په مونږ کښې تر اوسه پورې سختي موجوده ده (بُخاری ج۴ ص۱۵۳ حديث ۶۱۹۳) ❀ **يٰسين** يا **طٰـهٰ** نوم ايښودل منع دي (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه، ج۲۴،ص۶۸۰) **مُحَمَّد يٰسين** نوم هُم نه شي ايښودلې، خو **غُلام يٰسين** يا **غُلام طٰـهٰ** نوم ايښودل جائز دي ❀ په **بهارشريعت** حِصَّه ۱۵ کښې ”د عقيقې بيان“ کښې دي: **عبدُالله** او **عبدُالرَّحمٰن** ډير ښه نومونه دي خو په دې زمانه کښې اکثر دا ليدلې شوي دي چه د عبدُالرَّحمٰن په ځائ خلق **رَحمٰن** وائي او غيرِ خُدا ته **رَحمٰن** وئيل حرام دي. هُم دغسې عبدُالخالِق ته خالِق او عبدُالمَعبُود ته مَعبُود وائي، په داسې نومونو کښې داسې ناجائزه بدلون کول بالکل نه دي پکار. هُم دغسې په ډير کثرت سره په نومونو کښې د تَصغِير (يعني وړوکي کولو) رواج دې يعني نوم داسې ورانوي چه د هغې نه سپکاوالي ظاهريږي او

www.dawateislami.net

په داسې نومونو کښې تَصغِير (يعني وړوکي والې) بالکل نه دي کول پکار. لِهٰذا کوم ځائ چه دا ګُمان وي چه په نومونو کښې به تصغِير کيږي دا نومونه دِ [هلته] نه ګرځي نور نومونه دِ کيښودې شي. (بهارِشريعت ج۳، ص ۳۵۶) ❀ کوم نومونه چه بد وي هغه بدلول او ښه نوم ايښودل پکار دي ځکه چه د نبيانو تاجدار، خوږ مَدَنـي سردار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به بد نوم (په ښه نوم) بدلولو. (سُنَنُ التِّرمِذِی، ج٤ص٣٨٢ حديث٢٨٤٨) د يوې ښځې نوم "عاصِيه" (يعني ګنهګاره) وو، حُضُورِ پاك صاحِبِ لَولاك صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغې نوم بدل کړو او **جميله** ئې کيښودلو (مُسلِم ص١١٨١ حديث٢١٣٩) ❀ داسې نومونه منع دي چه په هغې کښې په خپله ځُله ځان ښه يادول يعني "په خپله ځُله خپل صِفَت" بيانيږي. **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰى اِرشاد فرمائي: **فَلَا تُزَكُّوْٓا اَنْفُسَكُمْ** مفهوم ترجمهٔ کنزُالايمان: "نو خپل ځانونه پاك مه ښائې." (پ ٢٧، سُورةُالنجم آيت٣٢) **اعلٰی حضرت** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د "**فُصُولِ عِمادي**" په باره کښې ليکلي دي: هيڅ څوك دِ په هغه نوم، نوم نه ګرځي چه په هغې کښې تزکِيه يعني د خپلې لوئي او صِفَت اِظهار وي. (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه، ج٢٤، ص٦٨٤) په مُسلِم شريف کښې دي: خوږ مَدَنـي سردار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د "بَـرَّه"

www.dawateislami.net

(يعني نيكه بي بي) نومې ښځې نوم بدل کړو ”زينب“ ئې کېښودو او وئې فرمائيل: ”خپلو ځانونو ته ښکلې ښه مه ښائې [يعني مه وائې]. الله تعالىٰ ښه پوهيږي چه په تاسو کښې نيکو کار څوک دې“ (صحيح مُسلِم ص۱۱۸۲ حديث۲۱۴۲) ❁ داسې نومونه جائز نه دي کوم چه د کُفَّارو د پاره مخصوص وي. فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه، جِلد ۲۴ ،صفحه ۶۶۳ تا ۶۶۴ کښې دي: د نومونو يو قِسم د کُفَّارو سره مُختَص (يعني مخصوص) دې لکه جِرجِس، پُطرُس او يُوحَنَّاوغيره لِهٰذا داسې قِسم نومونه مسلمانانو د پاره اېښودل جائز نه دي ځکه چه په دې کښې د کُفَّارو سره مشابَهَت دې. وَاللهُ تعالىٰ اَعْلَم ❁ غُلام محمد او اَحمدجان نوم اېښودل جائز دي خو بهتر هُم دا دي چه د غُلام يا جان الفاظ ورسره زيات نه کړې شي د پاره د دې چه د مُحَمَّد او اَحمد نوم کوم فضائل په اَحادِيثِ مُبارکه کښې راغلي دي چه هغه حاصل شي ❁ غلام رسول، غُلام صِدّيق، غُلام علي، غُلام حُسين، غُلام غوث، غُلام رضا نومونه اېښودل جائز دي.

په زرګاؤ سنّتونه زده کولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه دوه کتابونه (۱) د ۳۱۲ صفحو کتاب ”بهارِشريعت“ حصّه ۱۶ او (۲) د ۱۲۰ صفحو کتاب ”سُنَّتيں اور آداب“ هديه کړئ او ولولئ. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه

غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي په مَدَني قافِلو کښې د عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دې.

سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو　　لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو　　ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو

زده کړئ ښکلي سُنَّتونه قافِلو کښې لاړ شئ
وګټئ ډير رحمتونه قافلو کښې لاړ شئ

حل به موشي مشکِلونه قافلو کښې لاړ شئ
شي به لرې آفتونه قافلو کښې لاړ شئ

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـيْـب!　　صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

## نيك او لمونځ ګزاره جوړيدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ځائ کښې کيدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنَّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره د ښو ښو نِيَّتونو سره ټوله شپه تيروئ ❁ د سُنَّتو د تربِيَّت د پاره په **مَدَني قافِلو** کښې د عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د دري ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِكرِ مَدِينه**" په ذرِيعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډكوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يكم تاريخ ئې د خپل ځائ ذِمَّه دار ته د جَمع كولو معمول جوړ كړئ.

**زما مَدَني مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح كوشش كول دي."** اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپل ځان د اصلاح د پاره په "**مَدَني انعاماتو**" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د كوشش كولو د پاره په "**مَدَني قَافِلو**" كښې سفر كول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ










MC 1286


فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (كراچئ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net

www.dawateislami.net